
# جان ستوارټ مل
# په ۹۰ دقیقو کي

## د آزادۍ ، تجربې او اغېزمنتوب فلسفه



لیکوال:
پال ستراټرن
PAUL STRATHERN

سریزه او ژباړه:
ډاکټر محمد حسن کاکړ
د کابل پوهنتون د تاریخ پخوانی استاد

# جان سټوارټ مل

# په نوي دقیقو کې

## د آزادۍ فلسفه، تجربي فلسفه، د ګټورتوب فلسفه


لیکونکی

**پال سترا ټرن**

پښتو کوونکی

**محمد حسن کاکړ**



فبروري ۲۰۱۶

**بسم الله الرحمن الرحيم**

# جان سټوارټ مل په نوي دقیقو کې

لیکوونکی: **پال سترا تړن**

پښتو کوونکی: **محمد حسن کاکړ**

خپرندوی: **د کاکړ تاریخ بنسټ**

د خپرونو لړ: (**۵**)

چاپکال: **۱۳۹۵ل/ ۲۰۱۷ز**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

# لړلیک

د خپرندوی بنسټ یادښت ........................................................ 4

د ژباړونکي پیلامه ................................................................ 7

یادښتونه ..............................................................................25

د خورا ډېرو خورا ډېره نیکمرغي د قانون او اخلاقیاتو بنسټ دی

د ګټورتوب فلسفې "سپیڅلی رښتین توب" ...............................28

د جان ستوارټ مل ژوند او آثار ................................................35

پایلیک ................................................................................72

د مل له لیکنو څخه ................................................................74

د مهمو فلسفي نېټو کرونولوجي ................................................78

د مل د ژوند او عصر نیټې ......................................................82

# د خپرندوی بنسټ یادښت

فلسفه او فکري منظومې د بشریت ګډه شتمني او زېرمه ده چې د نړۍ له هرې برخې څخه یې تومنه اخیستې او پایله یې د بشریت د پرمختګ او رفاه لپاره هر اړخیزې هڅې دي. انسانانو لومړۍ اساطیري دوره بشپړه کړه او بیا فلسفي دورې ته ورسېدل چې د فسلفي دورې پایله یې ساینسي لاسته راوړنې شوې. لویدیځوالو فلسفي افکار په سیستماتیکو کالبونو کې منظم کړل او په دې توګه یې فلسفي مکتبونه ایجاد کړل، خو په ختیځ کې فلسفه له ادبیاتو ،هنر، عرفان، ادیانو، تاریخ او نورو ټولنیزو پوهنو سره ګډه پاتې شوه او په دې توګه دلته منظم علمي ـ فلسفي مکتبونه رامنځ ته نه شول.

په وروستیو پېړیو کې یو شمېر ختیزو ټولنو د دې لپاره چې ځان د

لويديزو فلسفي مکتبونو څخه خبر کړي، نو د لويو فيلسوفانو آثار او تفسيرونه خپلو ژبو ته راوژباړل او په دې توګه يې د ټولنې ګڼو علمي مسئلو او پوښتنو ته د ځوابونو او حللارو د موندلو لاره هواره کړه.

پښتو او پښتانه له بده مرغه په دغه برخه کې وروسته پاتې دي، د يو شمېر لويو ليکوالو، ژباړونکيو، استادانو او افغان فيلسوفانو په زيار د ګوتو په شمېر کتابونه ليکل يا ژباړل شوي دي چې لاهم پوهنې ته د تږيو ځوانانو اړتيا نه شي پوره کولای.

زموږ قدرمن او پُرکاره استاد پوهاند دکتور محمد حسن کاکړ د خپل ژوند په دې وروستيو کلونو کې له خپلو ستومانيو او روغتيايي ستونزو سره سره د همدغې اړتيا پربنسټ د ځينو مهمو فلسفي آثارو ژباړې ته د همت اوږه ورکړې ده او په دې توګه يې ځوان نسل ته دوه درسونه په ميراث پريښي دي، يو دا چې د ده له خوا راژباړل شوي آثار ولولي او ځان پرې وپوهوي، دوهم دا چې د خپل دغه قدرمن مشر دعلمي پلونو پر کرښه ګام کښېږدي او پخپله هم د نورو مهمو فکري او علمي آثارو ژباړې ته ملا وتړي.

ستاسو په لاس کې کتاب د نولسمې پېړۍ دګټوروالې (utilitarianism) فلسفې د تکړه مفسر (جان سټوارټ مېل) د افکارو په اړه د (پال ستراټرن) رساله ده چې زموږ پیاوړي استاد کاکړ راژباړلې ده.

کاکړ تاريخي بنسټ وياړي چې د خپلو ګټورو خپرونو په لړ کې د استاد دغه نوې ژباړه هم خپروي.

بنسټ د خپل کار له پيل څخه تر نن پورې د استادهغه تاليفات او ژباړې خپاره کړي دي چې د افغاني فرهنګ په معاصره دوره کې خپل ځانګړی ځای او ارزښت لري.

موږ باور لرو چې د جان سټوارټ مېل له افکارو او فلسفي باورونو سره به د افغانستان د ځوان نسل آشنايي له همدغې رسالې څخه پیلیږي. د دې رسالې منځپانګه، ځکه په افغاني ټولنه کې مهمه ده چې د ګټوروالې فلسفه دلته لا چا ډېره دیوې مجردې علمي لارې په توګه نه ده پېژندلې. د ګټوروالې منطق پر دې ولاړ دی چې هغه افکار او اعمال غوره دي چې ګټه یې عامه وي او د ټولنې لویه برخه ورڅخه تر ټولو ډېره ګټه پورته کولای شي. د سټوارټ مېل له نظره د اخلاقو او قانون وجودي فلسفه پر همدې ولاړه ده چې څنګه د ټولنې اکثریت ته ډېره ګټه ورسولای شي.

بنسټ هیله لري چې په راتلونکي کې هم د استاد او نورو پوهانو د آثارو او ژباړو د چاپ له لارې په افغانستان کې د پوهې او فرهنګ مینه والو ته نور په زړه پورې آثار هم وړاندې کړي.

موږ د دغې رسالې پاڼې په داسې شېبو کې چاپ ته استوو چې د استاد کاکړ د روغتیا، ژوند او نورو آثارو د پنځولو وس موندلو لپاره مو د دعا لپې د لوی خدای ج دربار ته پورته کړې دي.

دې دعا ته ستاسو قدرمنو لوستونکیو د آمین ویلو په هیله.

کاکړتاریخي بنسټ

د علمي بورډ سکرتریت

۱۳۹۵ د مرغومي لسمه

کابل

# د ژباړونکي پيلامه

د نونسمي پېړۍ برتانوي فيلسوف جان ستوارټ مل (۱۸۰۶-۱۸۷۳) افغانانو ته ناآشنا دی. دغه ژباړه به لومړۍ ليکنه وي چې په اړه يې په پښتو وړاندې کيږي. دغه کتابګوټی په ۲۰۰۲ کال کې د فلسفې استاد پال ستراترن (Paul Strathern) خپور کړی دی. دا د لرغوني يونان نه تر اوسه د لوېديزي نړۍ د نامتو سوچوالو په اړه د ۲۸ کتابګوټو په لړ کې خپور شوی دی. ليکوال يې د آيرلېنډ د ډبلن د ښار په پوهنتون کې په فلسفه کې زده کړه او په لندن کې يې د فلسفې او رياضي ښوونه کړې ده.

جان ستوارټ مل د انګلستان يو نامتو سوچوال وو او نظرونو يې په لوېديز مدنيت باندې ژور اثر کړی دی، خو ده رسمي زده کړه نه ده کړې. پلار يې دننه په کور کې د هغه روزنه او پوهنه کړې ده. دده پوهنه په دغه ډول او په دغسې سويه شوې چې شايد په نړۍ کې د بل چا روزنه او پوهنه په دغه ډول نه وي شوې. پلار يې، جېمز مل (James Mill)، هوډ کړی و چې له خپل زوی نه يو نابغه جوړ کړي.

جېمز مل دغه کار د انګليس د يوه نامتو فيلسوف، جان لاک (John Locke)، ددغه نظر پر بنسټ کاوه چې د انسان ذهن په پيدايښت کې د "سپين کاغذ" په شان دی. نورو فيلسوفانو دغه "سپين کاغذ" سپينه تخته يا نالیکلې تخته (tabula rasa) نومولې. د جان لاک د نظر له مخې پوهه يوازې له تجربې څخه راوزي او "په پوهه داسې څيز نشته چې لومبی په احساسونو کې نه وي." ددې مانا دا کيږي چې پوهه له احساس

نه پرته ممکنه نه ده. او هغه وخت چې احساسونه دماغ ته ورسیږي، هغه یې یوله بله نښلوي او فکر پرې کوي. لاک دغه پروسه عقلي استدلال بولي. په دې ډول نظرونه او فکرونه په اصل کې د احساسونو محصول دي او شخصیت د نظرونو یو پېچلی ترکیب دی او شخصي هویت په حافظه کې د نظرونو له ذخیره کولو څخه حاصلیږي.(۱)

په ساده ژبه د جان لاک د نظر له مخې انسان اول د حواسو له لارې اطلاعات تر لاسه کوي او دماغ بیا له هغو نه د فکر کولو په پروسې سره مفهوم او علم ته رسیږي. دغه طریقه تجربي پوهه (empiricism) نومیږي. نورو برتانوي سوچوالو، په خاص ډول ډېویډ هیوم (David Hume) (۱۷۱۱-۱۷۷۶)، برکلي (George Berkeley) (۱۶۸۵ -۱۷۵۳) او ستوارټ مل ورته انکشاف ورکړ. دا د ذاتي آیډیا ګانو له فلسفې څخه بېله ده چې د فرانسې فیلسوف رنه دکارت (Rene Descartes) (۱۵۹۶-۱۶۵۰) دمخه وړاندې کړې وه او زموږ په مهال کې امریکایي ژبپوه، نوم چامسکې او نورو دغه نظر وړاندې کړ چې انسان د ژبې جوړولو استعداد له اول نه په طبیعي ډول لري. (۲)

چامسکي دغه نظر وړاندې کړ چې " څنګه چې هر ماشوم ددې استعداد لري چې هر ډول ژبه زده کړي، نو ټول ماشومان به هغه بنسټیر جوړښت په ګډه ولري."(۳)

جېمز مل چې د جان لاک د نظر له مخې د خپل زوی پوهنه په خپل لاس ونیوله، پروګرام یې دا شو چې د هغه د ذهن "سپین کاغذ" یا "تالیکلې تخته" له عقلي فکرونو څخه ډکه کړي، بیا نو دا منطقي وه چې د جان ستوارټ مل ښوونه د لرغوني یونان د تعلیماتو له مخې وشي چې مدنیت یې، د وخت د نورو مدنیتونو پرخلاف، په اساس کې د عقل پر

پرنسیپونو ولاړوو.

سټوارټ مل په درې کلنۍ کې د ریاضي او لرغوني یوناني ژبي او په اته کلنۍ کې د لاتین، الجبرې او هندسې په زده کړې پیل وکړ. په دولس کلنۍ کې د منطق او فلسفې د زده کړې لپاره تیار و. زده کړه به د سهار په شپږو بجو پیل کېدله او ټوله ورځ به یې دوام کاوه.( د بارک حسین اوباما مور هم په شپږو بجو په اوباما زده کړه پیل کوله.) د مل کور د هغه لپاره ښوونځی وو او پلار یې د خپل زوی د عقلي استعداد او انکشاف ته متوجه و؛ د هغه احساساتي او جذباتي خوا یې له نظر نه غورځولې وه. شعري او تخیلي خوا یې هم له پام نه غورځولې وه. دهغه ټول کوښښ په دې کې و چې د خپل زوی عقلي ظرفیت د تنور د دورې پوهانو د نظریو له مخې و غوړیږي. ددې لپاره یې مناسب چاپېریال هم ورته برابر کړی و. جېمز مل چې د افراطي فیلسوفانو (radical philosophers) یو وتلی کس و، خپل زوی هڅاوه چې ددوی په بحثونو کې ګډون وکړي. د هیواد نامتو اقتصاد پوه، ډېوید ریکارډو (David Ricardo)، هم په همدغې ډلې کې و. مل په تنکۍ ځواني کې د هغه او د پلار په بحثونو کې ګډون کاوه او د سیاسي اقتصاد په اړه یې پخپله هم نظر ورکاوه. خو دده لوی هڅوونکی نامتو او غېرعادي فیلسوف جرمي بنتهام (Jeremy Bentham) (۱۷٤۸- ۱۸۳۲) و چې د خپل ابتکاري ذهن په قوت او پرله پسې زیار سره هم نوي پروجې اېستلې او هم یې نوې ایډیاګانې وړاندې کولې، ددغې فلسفې پر بنسټ چې د خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي، د قانون او اخلاقیاتو بنسټ دی.

بنتهام هم د سټوارټ مل له پوهنې سره علاقمن شو. د پلار په شان یې هغه دغسې یو کس وګاڼه چې دده فکري میراث به نوي نسل ته ورسوي.

دا يو پرځای تشخيص ثابت شو. مل په ځوانۍ کې د هغه د شاوخوا يو ميليون يادښتونو او وړو ليکنو نه يو منسجم اثر را وايست، په نامه د 'شواهدو په اړه' (ON EVIDENCE). خو مل چې د بنتهام د ګټورتوب په فلسفه کې څومره ژور کېده، هغومره پرې انتقادي کېده. ان تر دې چې ځانله يې بېله لاره غوره کړه، لږ و ډېر هسي چې په لرغوني يونان کې چې ارسطو د افلاطون د ايډيا فلسفه چې موجوده نړۍ يوه ايډيا ده، ترک کړه او د تجربې او مشاهدې لار يې ونيوله او په نونسمي پېړۍ کې مارکس د هيګل ايډيالي فلسفه په مادي فلسفې واړوله.

مل برسېره پر دې چې د بنتهام د خوښي فلسفې، د لذت پر وړاندې د کېفيت خوا ټينګه ونيوله. د هغه د ګټورتوب په فلسفه کې يې د ليبرال فکر ګډ کړ، په دې ډول چې " د خوښۍ ارزښت په هغې ښېګڼې کې پروت دی چې د فرد ژوند ته يې راوړي. بيا هم د ټولو له ګټې سره بايد د ټولو فکر په نظر کې وي. اجبار بايد هيڅ نه وي. نيکمرغي به په هغې ټولنې کې ښه نفوذ کولی وشي چې هلته هرڅوک پرېښوول شي چې د خپلې خوښي نېکمرغي ولټوي او يوازنی شرط بايد دا وي چې د نېکمرغۍ دغه فردي ډول د نورو د نېکمرغۍ له رقم يا له ټوليز ښه والي سره ټکر و نه کړي."

مل په دې ډول په عملي ژوند کې په فردي آزادي باندې ټينګ ودرېد. دی معتقد و چې " فرد په خپل ځان، په خپل بدن او په خپل ذهن باندې د مطلق حاکميت خاوند دی." په دې ډول "مل آزادي غوره کړه چې فردي موخو ته پرې ورسيږي." مطلب "دا و چې د فرد د غوړېدلو وړ طبيعي قوت آزاد شي، ددې له پاره چې موږ ټول قادر کړي چې خپل ټول استعدادونه کشف کړو. دغسې آزادي به زموږ ټولو استعدادونو ته د

تخلیق او ابتکار لامل شي. په نتیجه کې به موږ وکولی شو چې په اخلاقي، روحي او عقلاني لحاظ پرمختګ وکړو. دا به په خاص ډول دغسې ټولنه رامنځ ته کړي چې په هغو ناوړو پیښو غلبه وکړي چې مارکس یې پارولی و، خو د انقلاب له شدیدو ورانیو څخه پرته."

د مل فکرونه په لیبرالېزم، امپیریسیزم او یوټلیټیریزم، یا د آزادۍ په فلسفه، د تجربې په فلسفه او د ګټورتوب یا د نېکمرغۍ په فلسفه خلاصه کېدلی شي، خو دا د هغه د فکرونو یو ساده او نیمګړی تصنیف دی.

لیبرالیزم هغه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي دکتورین یا نظر ته ویل کیږي چې کلاسیک جوړښت یې په فردي آزادي، محدود حکومت، تدریجي ټولنېز پرمختګ، لیسه فېر، یا آزادې سوداګرۍ ولاړ وو. اوسنی لیبرالیزم په داسې حال کې چې په فردي آزادي او شخصي فرصت عقیده لري، له دولت نه غواړي چې په ټولنېزي ښېګڼې او ټولنېز سیاست کې رول ولوبوي. د دواړو شکلونو مفهوم د عمل او وجدان آزادي په غیر کې نیسي. لیبرالیزم په نونسمې پېړۍ کې د منځنۍ طبقې له سوداګرو او متشبثانو د ایډیالوجۍ په شان انکشاف وکړ. د هغه عقلي بنسټ د جان لاک په سیاسي فلسفې او د تنور دورې په انساني پرمختګ، او د عقلانیت په عقیده د آدم سمت د آزاد مارکېټ په اقتصادي نظریو او د بنتهام او جان سټوارټ مل د ګټورتوب په فلسفې ایښوول شوی و.(٤) د لیبرالیزم مرکزي ټکی فردي آزادي ده، په دې ډول چې فرد به د قانون له مخې له محدودیت او اجبار نه آزاد فعالیت کوي او له دغې لارې به هم د ځان او هم د ټولنې ګټې خوندي کوي. څنګه چې ټولنه له افرادو نه جوړه ده، که افراد پوه، فعال او د ایډیال خاوندان وي، ټولنه ډینامیکه او ابتکاري کیږي. د مل په نظر دا د ټولنې مسئوولیت دی چې دغسې افراد

و روزي. دی دا هم وایي چې هر فرد د بل په شان مهم دی. ګدایګر له پاچا زوی سره برابر دی او په نړۍ کې ټول په یوه ډموکراټیک بنسټ ولاړ دي.[۵] ځینې نور ددې پرخلاف وایي چې د افرادو اصلاح د ټولنې په اصلاح پورې تړلې ده، خو تجربو ښوولې د ټولنې په نامه د غېر ډموکراټیک حکومت له خوا د افرادو اصلاح اجبار او تشدد حتمي کوي چې دا مل او ملګرو ته د منلو وړ نه دي. د افرادو د اصلاح اساسي لار پوهنه ده چې له بده مرغه په ټولې نړۍ کې ورته لازمه توجه نه کیږي. تر هغو چې پوهنه او روزنه د ماشومتیا په مهال د فامیلونو او وروسته د ټولنې له خوا په ډیموکراټیکي طریقې سره و نه شي او د انسان دوستۍ مضمون په درسي نصاب کې شامل نه شي، د ټولنې او په نهایت کې د نړۍ والي ټولنې اصلاح به هسې یو خیال او د انسان ژوند به تل کړکېچن او ناخوښه وي. په اصل کې دا پوهنه، پوهه او ټکنالوجي ده چې د پرمختګ، نېکمرغۍ او د باکېفیته ژوند لامل کیږي. ارسطو ویلي وو چې مور او پلار اولاد ته ژوند ورکوي خو ښوونکی ورته ښه ژوند ورکوي.

امپیریسیزم یا تجربي فلسفه د پوهې هغه طریقه ده چې د حواسو په شواهدو سره تائیدیږي. په لیدلو اوریدلو، بویولو، حس کولو او چښلو سره مونږ د شاوخوا په اړه مفکوره جوړوو. په دې ډول تجربي پوهه له هغو نظریو څخه جوړیږي چې د مشاهده شویو یا حس شویو واقعیتونو (facts) پر اساس تر لاسه کیږي.[۶] داسې هم ویل کیدلی شي چې تجربي پوهه هغه پوهه ده چې وایي د واقعیت د موضوع ګانو ټوله پوهه له تجربې، مشاهدې او حس کولو نه راوزي او د پوهې ټولې ادعاګانې یوازې د تجربې له لارې د اعتبار وړ کیدلي شي. د پوهې دغې فلسفې په انګریزي ویونکو ولسونو باندې ژور اثر کړی دی او له جان لاک نه

وروسته د برتانيې ډېرو سوچوالو هغې ته ډېر انکشاف ورکړی دی.
د نېکمرغۍ يا ګټورتوب د فلسفې اصلي پرنسيب دادی چې د خورا ډېرو خورا ډېره نېکمرغي د قانون او اخلاقياتو بنسسټ دی. ددغې فلسفې مبتکر جرمي بنتهام وو او جان ستيوارټ په همدغه نامه په خپل يوه اثر کې ډېر ژور لاړ، انکشاف يې ورته ورکړ او د هغه کمي يا مقداري شکل يې کيفي کړ او دايې هم وښودله چې هغه ډېرې درجې لري. ددغه کتابګوټي د ليکوال په ژبه " د ليبرل ګټورتوب ايډيا چې مل ورته انکشاف ورکړ، د هرې هغې ټولني له لارې چې څومره ليبرال کېدله، هغومره خپرېدله. تر دې حده چې د ګټورتوب دغه پرنسيب اوس په لويديځ ډول ډموکراسيو کې د اساسي قانوني حق په شان شوی دی."
مل د خپل ' د سياسي اقتصاد پرنسيبونه' په نامه اثر کې د برتانيې د کلاسيکو اقتصاد پوهانو په نظريو کې اساسي تغير راوست او هغه دا چې په اقتصادي فعاليت کې توليد قوانين لازم کوي. يعني آزاد مارکيټ ځانله قوانين لري چې مداخله بايد پکې و نشي، خو "وېش" هيڅ قوانين نه لري او شتمني همدا چې توليد شوه د ټولنې د هغې برخي احساسات او نظرونه ورته قوانين ټاکي چې توليدوي يې. مل د شتمنۍ په وېش سره په پانګه والي نظام کې اخلاقيات ګډ کړل. مل په دغه ډول د کلاسيکو اقتصاد پوهانو د نظرونو په دغسې اړولو سره د پانګه والۍ نظام له بېخ نه اصلاح کړ. دا په زياته اندازه دده ابتکاري نظرونه دي چې د نن ورځې لوېديځه نړۍ ډموکراټيکي او د عامه ښېګڼو (welfare) ټولنې شوې دي او په هغو کې د هر چا د فکرونو او ابتکارونو لپاره لاره خلاصه ده.
مل ته فردي آزادي دغومره مهمه وه چې د خپل پلار د نظر له مخې يوازې عقلي اړخ يې د انسان پېژندني لپاره کافي و نه ګاڼه او د هغه د ښې

پېژندني لپاره د رومانتیکي شاعرانو او لیکوالو آثارو ته هم ورننووت. پلار یې دده پوهنه او روزنه ددغه نظر له مخې کوله چې دده دماغ د جان لاک په نظر یوازې له عقلي فکرونو څخه ډک کړي. مل ددغسې روزنې او پالنې په اثر دغسې انسان شوی و چې "... تر اوه ویشت کلنۍ پورې د هغه دنننې ژوند په دلیل او عقل سره پوره اداره کېده." مل به د تنور دورې په نیمګړتیا او د چارلز ډارون (۱۸۰۹-۱۸۸۲) 'د عضوي موجوداتو سرچینه' په لوستلو سره په دې فکر شو چې انسان له عقل نه برسېره نور طبیعي میلانونه هم لري چې هغه کړووړو ته که هغه شعوري وي یا غېر شعوري، هڅوي. هانس مور ګنیتا د عقلاني فلسفې دغه نیمګړتیا په دغه ډول واضح کوي: " عقلاني فلسفې د انسان طبیعت، د اجتماعي نړۍ طبیعت او پخپله د عقل طبیعت سم پېژندلی نه دی. هغه دا نهویني چې انسان درې بعدونه لري، بیالوجیکې، عقلاني او روحي. د بیالوجیکي محرکاتو او د روحي غوښتنو په نظر کې نیولو سره هغه د انسان د ټول شته والي په حدودو کې هغه وظیفه په ناسمه توګه تعبیروي چې عقل یې تر سره کوي."(۷)

خو دا چې پخپله عقل څه څیز دی، په دې اړه دقیق تعریف نه دی لیدل شوی، که څه هم انسان د عقل خاوند دی او د هغه په حکم عمل کوي، یایې باید وکړي. د یوه ماشوم ګوته چې اول ځل په اور وسوځېدله، بیا د عقل په حکم له اوره څخه ځان ساتي. په دې ډول عقل هغه استعداد یا قوې ته ویل کېدلی شي چې انسان پرې د ځان ساتنه کوي او د ځان په خاطر بل چاته هم خطر نه پېښوي او دی چې کله روحي، عقیدوي، جسمي او نورو محدودیتونو او دسپلیونونو ته غاړه ږدي، دغه کار په اصل کې د ځان د پاره کوي. بیا هم مور ګنتا: " هغسې چې په فزیکي

نړۍ کې د عقل د قوانينو سره د برياليتوب ضمانت کوي، داسې هم هغه په ټولنېزه نړۍ کې د عقل له قوانينو سره مطابقت کوي. که ټولو انسانانو د عقل حکم ومانه، جګړې به چې سره بېلوي يې، ورکې شي. او که نور څه نه وي، په روغې جوړې به واوړي. ... يوه کامله نړۍ هغه ده چې ټول يکې د عقل د حکم اطاعت وکړي."(۸)

البته دغسې کړه اسانه نه دي، په تېره بيا په هغه چاپېريال کې عقل او عقيده سره وران وي، لکه چې زياتره همدغسې وي. خو که انسان روغ او آرام ژوند غواړي، بله لاره هم نه لري. نو انسان چې له هر نظر نه عمل کوي دا يې په ګټه ده چې هغه د عقل په رڼا کې وکړي. که د عقل دقيقه پېژندنه ګرانه ده، په دستور يې عمل کېدلی شي. په دې اړه جان ستوارټ مل ښه بېلګه کېدلی شي چې د ښې روزنې او پالنې له امله يې تر پايه پورې د انضباط او پرنسيب له مخې ژوند وکړ او روحي، جنسي او عقيدوي تمايلاتو ته تسليم نه شو. ددغسې پوهنې او روزنې په رڼا کې و چې هغه يو نادر فيلسوف شو. که هغه له دغسې پوهنې او روزنې نه بهره من نه وای، هغه شايد يو عادي او بې نومه انسان تېر شوی وای. دده مثال ښيي چې په سمې روزنې، سمې پوهنې او سمو ضابطو سره عقل انکشاف کوي او انسان د کمال په لور درومي. بيا نو ويل کېدلای شي چې انسان په ښې پوهنې سره قادر کېدلی شي چې ځان او نور وپېژني او د دوستۍ په روحيې سره ژوند وکړي.

دا به د جان ستوارټ مل او داسې نورو برتانوي فيلسوفانو د نظريو له امله وي چې اوسني برتانويان په يوه منظمه ټولنه کې په عمومي ډول د عقل په رڼا کې ژوند کوي، سره له دې چې ددوی د ټولنې مخينه سخته طبقه ييزه او ترخه ده. خو برتانويانو دغسې ژور سوچوالان درلودل چې د

افرادو د استعدادونو د غوړېدلو او د ټولنې د اصلاح او ښه تنظیم په اړه یې اساسي ابتکاري نظرونه وړاندې کړي دي. دا به ددوی د نظریو او داسې هم د لوړو پوهنېزو مرکزونو د شته والي له امله وي چې برتانویان اوس په سالمه ټولنه کې د فردي آزادۍ پر اساس ژوند کوي او خپلمنځي ستونزې او کشالې په خبرو سره هواروي. په لندن کې د پوهنتون د زده کړې په وخت کې ماته مالومه شوه چې په برتانیه کې د فردي آزادۍ او عقل له مخې غونډې او بحثونه عام دي، نه یوازې په درسي او علمي مرکزونو کې، بلکې په کلیو کې هم ددغسې بحثونو او د لوړې سویې د انتقادي پوهنې له امله به وي چې برتانویان اوس په عمومي ډول د فکري تقلید له حال نه وتلي او د آزاد فکره انسانانو سطحې ته لوړ شوي دي.
مهم فردي خاصیتونه یې دا دي: په رښتینتوب معتقد دي، له دروغ ویلو نه ډډه کوي، فزیکي خپړې نه سره لګوي، اداري فساد پکې نشته. ددغه واقعیت غټه بېلګه داده چې د لندن پوهنتون له حکومت نه بودجه ترلاسه کوي، خو حساب نه ورکوي. په دغه دلیل که حساب ورکړي، علمي آزادي به یې محدوده شي. حکومتي چارواکي په دې اړه شکایتونه کوي، خو ویلی نه شي چې په پوهنتون کې اداري فساد دی. برتانویانو ته پوهه او پوهنه دغومره ارزښت لري چې ځینې چارواکي یې، د ښځو په ګډون، له تقاعد وروسته هم د لوړو زده کړو کورسونه وایي. دوی د انسان دوستۍ له لوړې درجې نه بهره من دي. د انګلستان، سکاټلېنډ، ویلز او شمالي آیرلېنډ ځینو سیمو ته د سفر په وخت کې محلي خلکو ما ته چې یو بېګانه کس وم، په ورین تندي لارښوونه او د ضرورت په حال کې راسره مرسته کړې ده.
د برتانوي افرادو د کرکټر د جوړېدلو عوامل ډېر دي، لکه د نورو خلکو

چې دي، خو متفکرانو یې په دې اړه اساسي اثر لرلی دی، لکه هسې چې د لرغوني یونان فیلسوفانو چې د آتن په آزادو نارینه و باندې لرلی و. په لرغوني یونان کې د مذهبي بندیزونو په نشته والي سره آزاد تفکر عام و. نتیجه یې د سترو متفکرانو هسکېدنه شوه، ډېر نومیالي یې سقراط، افلاتون، ارستو، زینو او نور دي. (۹) دوی دغسې متفکران وو چې د انسان په اړه ددوی فکرونه د عالمي اوصافو د لرلو له امله تر اوسه هم د اعتبار وړ دي.

د "سقراط د محکمې او مرګ" په نامه د افلاتون له څلور ډیالوګونو نه ښکاره ده چې عادي نارینه آتنیان چې د سقراط د بندیتوب په وخت کې له هغه سره غبرېدلي دي، د عقل او فکر په چوکاټ کې غبرېدلي دي، نه د جذبې، احساس او عقیدې له مخې. که څه هم د بحث زیاتره موضوع ګاني د سقراط د ژوند یا مرګ په اړه وې چې دوی یې ټینګ پلویان وو.[۱۰]

خو زموږ افغانان په دغې یوویشتمې پېړۍ کې هم جذباتي، احساساتي او مذهبي دي. تربورګلوي، انتقام، دښمني او وژنه پکې مروجه ده. اوس خو لا ځان وژنه او بل وژنه هم پکې مروجه شوې ده.

پوښتنه داده چې افغانان چې تر برتانویانو اوږد تاریخ لري، ولې په دغه فکري حال کې دي؟ په لنډه توګه، افغانان په پېړیو، پېړیو کې پخپله اراده یا د اجتماعي جبر له مخې مقلد او نا آزاد وو او د عنعنو او دودونو له مخې یې تقلیدي ژوند کاوه. له هغو فکرونو او نظریو سره هم نا آشنا وو چې د نویو انکشافاتو له امله، په نورو ټولنو کې د فرد او ټولنې په اړه وړاندې کېدل، نو په ژوند کې یې اساسي بدلون پېښ نه شو. خو افغانان د حنفي مذهب او د خپل چاپېریال د واقعیتونو په رعایت سره د نونسمې

پېړۍ تر نيمايي پورې په فکر او عمل کې اعتدالي او په مذهبي لحاظ د زغم خاوندان او آزاد طبع وو. له دوی سره په ملک کې ارمني عيسويان، يهودان، هندوان او سيکان اوسېدل. له هغه وروسته وو چې افغانان اول له برتانويانو سره د جنګونو او په شلمه پېړۍ کې له شوروي روسيانو سره د يوه اوږده جنګ له امله په خپلو ديني ارزښتونو نور هم ټينګ او د نامسلمانو په وړاندې حساس شول.

د قانوني پاچايي په ډموکراتيکه لسيزه کې د افغانستان په رسمي سياست کې د ليبراليزم پر اساس يو نوی فصل پرانيستل شو او د عصري پوهنې په پراخېدلو سره په تعليم کړو افغانانو کې فکري آزادي نفوذ وکړ. په دغه وخت کې و چې يو شمېر فعال سياسي افغانان د جرمني د مارکس، د روسيې د لينن، د جارجيا د ستالين او د چين د ماوزيتونګ د نظريو له مخې په عصري ګوندونو کې تنظيم شول او په وړاندې يې مذهبي ساتنپالان، د عراق د محمد عبدالوهاب، د هند د مولانا ابوالعلي مودودي او د مصر د حسن البنا او سيد قطب د نظريو پر بنسټ په اسلامي تنظيمونو کې تنظيم شول. په دې ډول دوې سره پوره متضادې ډلې په سياسي ډګر کې فعالې شوې او افغان سياست سخت قطبي شو. دغه ګوندونه په يو څه استثنا يو په بل پسې په واک شول. دغو ګوندونو او تنظيمونو په واکمنۍ کې کوښښ کاوه چې د ټولنې اساسي اړيکي له سره تنظيمي کړي، هغه هم په حکومتي زور.

د بېګانه فکرونو او ايډيالوجيګانو پر بنسټ ولاړ و دغو ګوندونو او تنظيمونو خپله ايډيالوجي سپېڅلې او د متقابلې خوا ايډيالوجي پوچه او مردوده ګڼله. هرې ډلې د خپلې "سپېڅلې" ايډيالوجۍ په تعميل کې د ټولنې جاري واقعيتونه په نظر کې نه نيول او په خپلې ايډيالوجۍ په جزمي

ډول ټینګ درېدل. بیا نو هرې خوا د واکمنۍ پر مهال خپل مخالفان ځپل او په تشدد سره یې له مېنځه وړل. افغانستان په دې ډول د لومړي ځل لپاره د سره متضادو او دښمنو ایډیالوجیګانو د پلویانو تر مېنځ د وژونکي مقابلې ډګر وګرځېد. لیبرال او ملي افغانان هم تر ډېره حده وځپل شول او ددوی په ځپلو سره متوسطه تعلیم کړې طبقه چې د کلونو کلونو د پوهنې محصول وه، له مېنځ ځخه ولاړه او د هیواد سیاست په حکومتي چارو کې د بې تجربې، هغه هم د افراطي او جزمي ګوندو او تنظیمونو ته منحصر شو. په نتیجه کې په افغانستان کې د سیاست په ډګر کې د تقلید او فکري مریي توب یوه نوې دوره پیل شوه.
اوس که څه هم ددغو ګوندونو او تنظیمونو د مطلقې ناکامۍ نه وروسته نوي لیبرال او ډموکراټ افغانان چې زیاتره یې تعلیم کړي او د انتقادي روحیې خاوندان دي، د عصري پوهنې په پراخېدلو سره، هسک شوي دي، بیا هم د فرد او ټولنې د اساسي موضوعګانو په هکله نوي اساسي فکرونه نه دي وړاندې شوي او ټولنه په اساس کې لا متحجره ده. اوس لا قومي او عقیدوي احساسات لا پیاوړي شوي او له مرکز نه د فرار میل ښکاره شوی او ملي پیوستون هم سست شوی دی.
دا ټول له دې امله چې د ګوندونو او تنظیمونو د واکمنۍ په مهال خپل هیواد تر زیاته حده له لایقو او مجربو افغانانو نه محروم کړ او په پرېمانه وژلو سره یې افغان ژوند هم ارزان او بې ارزښته کړ. په دغه ډول دغو ورانوونکو او وژونکو رجیمونو، سره له دې چې د سر یو څو لویان یې د پوهنتون استادان هم وو، د وژنې ډېر بد میراث پرېښود.
بده یې لا داده چې دغه میراث د سرطان د مرض په شان ریښې کړي او د خپل سر وژلو نوې طریقې اېستل شوې دي. دا په خاص ډول وروسته

له هغه و چې د امریکې زبرځواک حکومت د یوه بېگانه عرب، عصامه بن لادن په سر د ۲۰۰۱ کال په آخر کې د طالبانو اسلامي امارت په نظامي او هوايي قوت سره نسکور کړ او بیا د لوېدیځې نړۍ د ډېرو هیوادونو پوځونه هم د امریکې له لوی پوځ سره په افغانستان کې ځای پر ځای شول. په نتیجه کې د څه باندې لسو کلونو په موده کې د طالبانو د شریکو او دباندنیو پوځونو په مقابله کې له دواړو خواوو نه په زرگونو افغانان او باندنیان هم ووژل شول. امریکا په همدغه دوران کې د وران شوي افغانستان د بیا آبادولو په لار کې یوسلو درې ملیارډه ډالره و لگول، خو که دغه پیسې چې د افغانستان لپاره خورا ډېرې وې، په رښتیا او پر ځای لگولې شوې وای، افغانستان به بیرته ودان او د افغانانو غټې ستونزې به هوارې شوې وای. خو په افغانستان کې حکومت د بېساري، ډېر عام اداري فساد او د باندنیو د ناوړه مدیریت له امله و چې دغو پیسو خلکو ته هغومره گټه و نه کړه چې دوی یې هیله من کړي وو.

اوس (۲۰۱٦) که څه هم د امریکې او ناټو پوځونه شاوخوا لس زرو ته لږ شوي دي او اصلي دنده یې جگړه کول هم نه دي، بیاهم یو پراخ جنگ روان دی او د وژلو او ترهگرۍ قربانیان افغان نظامیان او ولسي وگړي دي، دغه وژني، هغه هم د ولسي معصومو خلکو، باید افغانانو ته د زغم وړ نه وي، خو څنگه چې د پرله پسې جگړو او ترهگرۍ له امله د افغانانو ژوند ارزانه شوی دی. د سلیم عقل آواز ته وژونکي غوږ نه نیسي. اوس لا د وژني نوي شکلونه، انتحاري وژني (ځان وژنه او بل وژنه) نه یوازې د نارینه و، بلکې د ښځو او ماشومانو [وژني] هم رواج شوي دي؛ که څه هم دا د ټولو بشري حقوقو او اسلام پر ضد عمل دی. په قرآن مجید کې د النسا د سورت په ۹۳ م آیت کې ارشاد دی چې که " څوک

يو مؤمن په ارادي ډول وژني د هغه پاداش دوزخ دی چې هلته به (د تل لپاره) وي او د خدای تعالی عذاب او غضب به پر هغه وي او سخته جزا به ورته تياره وي." لوی امام ابو حنيفه په فقه اکبر فتوا کې مؤمن دغسې مسلمان ښودلی دی: " موږ هېڅ څوک د ګناه له کبله کافر نه ګڼو او نه موږ د هغه له عقيدې نه منکر يو." (١١)

د وژني ميراث لا هم په قوت کې دی او د ختم هيله يې ضعيفه ده. دا د افغان په تاريخ کې تر هر بل جنګ نه اوږد دی او ښکاري چې هغه به په يوه او بل شکل نور هم اوږد شي، مګر په هغه حال کې چې د سياست د ډګر لوبغاړي د خپلو ايډيالوجي ګانو افراطي اړخونه پرېږدي او د زغم په ښوولو سره د روغې جوړې لار ونيسي. څنګه چې ددغو ډېرو ډلو مخينه د جنګ، وژني او افراطيت ده، قوي حکومتي نظام په خپله ګټه نهويني. دوی دا هم په نظر کې نيسي چې د شورويانو او د لوېديزو پوځونو په وتلو سره کراري په وطن کې خوندي نه شوه او دوی په خپلو کې د جنګ يوه بله دوره پيل کړه. په داسې حال کې چې پخوا د برتانوي لښکرو په وتلو سره په وطن کې کراري شوې وه، هغه وختونه په افغانستان کې ددوی په شان تنظيمونه نه و.

دغه ټول جنګونه، د کورنيو جګړو په ګډون، دغومره اثرناک شول چې د افغانانو کرکټر او سلوک ته يې تغير ورکړ. اوس حتی ښځې او ماشومان هم په دغسې بېرحمۍ سره وژل کيږي، لکه په ديارلسمه پېړۍ کې چې چنګېزيانو وژل. ددغو ټولو جنګونو، وژنو او د هيواد د ورانولو بيان نه دی شوی. امکان يې هم نه مالوميږي. يو څو وروستۍ بيلګې يې دادي: د تېر کال (٢٠١٥) په اوايلو کې د کابل ښار د شاه دو شمشېره ماجت تر څنګ اتو نارينه و، په ګډه په جوش سره د فرخنده په نامه يوه ځوانه

نجلۍ ووژله. ما ته نه ده مالومه چې د افغانستان په تاریخ کې به دغسې بېرحمه وژنه، هغه هم د یوې ښځې او د ښار په مېنځ کې ارګ ته نژدې شوې وي. وروسته د غور ولایت د غلمین په ولسوالۍ کې شاوخوا شلو سریله طالبانو، نونس کلنه رخشانه یو په بل پسې په تیږو وویشتله، تر څومږه شوه. د سریله طالبانو د صحرایي محکمې په نامه یوې سریله محکمې هغه په سنګسار محکومه کړې وه، په دې چې هغې له دېنه انکار کړی و چې له یوه پنځه پنځوس کلن سړي سره واده وکړي چې پلار یې ورته په نامه کړې وه. د ۲۰۱۵ کال په نومبر کې د زابل په ولایت کې اوه هزاره لارویان - څلور نارینه دوې ښځې او یو ماشوم ووژل شول، بې له دې چې کوم جرم یې کړی وي. ویل شوي دي چې دا د داعش (د عراق، شام د اسلامي دولت) ته منسوب د ملاَیانو کار وو. په ۲۰۰۸ یا ۲۰۰۹ کې په سوات کې د راټول شویو ډېرو خلکو په مخ کې د چند په نامه د اوه لس کلنۍ نجلۍ په درو وهل وو په داسې حال کې چې د هغې لاس اوپښې تړلي شوې وې. هغه وخت طالبان هلته مسلط وو. د ۲۰۱۶ کال په جنورې کې د فاریاب ولایت په غورماچ کې یوه سړي د خپلې شل کلنې ښځې، رېزه ګل، پزه پرې کړه او خپله یې، چېرته نژدې، د طالبانو تر لاس لاندې سیمې ته پناه یووړه.

په بله سطحه کې څو کاله وړاندې د شرعي محکمې له خوا دښاغلي غوث زلمي په اعدام محکومېدل وو، په دې چې هغه د خلکو د پاره قرآن مجید په فارسي اړولی و. دی بیا د کوم چا په شفاعت عفو خو له وطن نه د تل لپاره واېستل شو.

له دغو پېښو نه واضحه ده چې جنګ، هغه هم پرله پسې جنګ او وژنه، انساني صفتونه له مېنځ نه وړي او انسان وژنه عامه کیږي. د افغانانو په

تاريخ کې دغسې افغان وژنه عامه نه وه. دا ډېره غټه تراجيدي ده چې د افغانانو په ډېر ښکلي ملک کې دغسې کړغېړني پېښې کيږي، هغه هم په يوويشمه پېړۍ کې. چاره په کار ده چې وخت له وخت نه تېر نه شي او که نه ددغسې جنګ، وژني او ترهګرۍ به افغانانو ته ددغسې لويو ملي مصيبتونو لامل شي چې که خلاصون ترې نه کېدونکی نه وي، خورا ګران به وي. اساسي چاره پکار ده. د استاد محمد ظريف امين يار په نظر چاره داده چې: " ما بايد در طرز تفکر خود تجديد نظر بنيادي کنيم." د اساسي چاري لپاره حتمي ده چې د افغانستان جاري واقعيتونه په نظر کې ونيول شي. افغانستان نور يو ګوښه شوی هيواد نه دی او افغانان نور په تقليدي ژوند قانع نه دي. په ميلونونو افغانان اوس په ګاونډيو هيوادونو او په لکونو نور په اروپا، امريکا او کاناډا کې پراته دي. تېر کال (۲۰۱۵) شاوخوا دوه نيم لکه افغانان اروپايي ملکونو ته د ژوند لپاره لاړل. دننه په وطن کې عصري پوهنه، د پوهنتون په سويه، تر هر بل وخت پراخه شوې ده او ډېر افغانان د الکټرونيکي مخابراتي وسايلو - موبايل تيليفون، انټرنيت او تلويزيون له لارې له نړيوالو سره په زياتېدونکې اندازه په تماس کې دي. هره ګړۍ د نويو مالوماتو خاوندان کيږي، تنوير کيږي او هڅول کيږي چې ژوند د عقل په لارښود وکړي او له تقليدي ژوند نه مخ واړوي. دا يو پراخ او پراخېدونکی حرکت دی، پدې چې دا د عادي افرادو حرکت دی او افراد د هرې بشري ټولنې بنسټ جوړوي. اوس د افغاني ټولنې چلوونکو ته حتمي ده چې ددغه حرکت له پياوړي کېدلو سره مرسته وکړي او، په خاص ډول، افغانانو ته د هر ډول پوهنې زده کړه اسانه کړي. افرادو ته د آزادي او ددغې لارې نه ممکن کيږي چې خپلو استعدادونو ته چې انکشاف ته يې ټاکلی حد نشته، د کمال په لور

انکشاف ورکړي. افراد د ښې پوهنې او آزادۍ په حال کې فکري ابتکارونه کوي او د ژوند لا ښې طريقې راباسي.

افغانانو ته هم اوس حتمي شوې چې له خپلو جنګونو نه عبرت واخلي او له نويو انکشافاتو نه د ژوند د ښه کېدلو لپاره ګټه واخلي. له دېنه پرته ژوند او راتلونکی به يې روښانه نه وي، لکه چې د پوهنتون يوه استاد ويلي دي چې: "بشريت په هغه ابتکاري استعداد چې فکرونه راباسي او عملي کوي يې، متبرک کيږي او په هغې ناتوانۍ په عذاب کيږي چې هغه يې ترک کړي چې وخت يې تېر شوی وي." (۱۲)

ددغه اثر تر لومړي لوی سرليک لاندي، د آزادۍ فلسفه، د تجربې فلسفه، د ګټورتوب فلسفه ما اضافه کړې ده.

يو ځل بيا له محترم نسيم سليمي صاحب نه مننه کوم چې له خپلو ډېرو مصروفيتونو سره سره يې دغه ليکنه هم ټايپ کړې ده.

م. ح. ک.

فبروري، ۲۰۱٦

# یادښتونه

١- د قول نقل، ولیبم سهاکیان او تابل سهاکیان، د سترو فیلسوفانو ایدیاګاني، خپرونه د بارنز او نوبل، نیو یارک، ١٩٦٦، ,١٣٣
٢- د قول نقل، محمد اقبال وزیري، پښتو د تاریخ په بهیر کې، کاکړ تاریخي علمي بنسټ خپرونه، کابل، ٢٠١٥، ٢٠-,٢٢
٣- کرس روهمان، د آیډیاګانو نړۍ، د مهمو تیوري ګانو، مفهومونو، عقیدو او سوچوالانو قاموس، د بالنټاین کتابونو خپرونه، نیویارک،١٩٩٩، ,٣٨
۴- پورتنۍ سرچینه، ,٢٣١
٥- د قول نقل، سهاکیان، یاد شوی اثر، ,٤٥
٦- جارج نیلر، د پوهنې فلسفي بنسټونه، ژباړه د محّمد حسن کاکړ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ٢٠٠٢، ,٤٣
٧- هانس مارګنتا، علمي انسان د قدرت سیاست په وړاندې، د شیکاګو پوهنتون خپرونه، شیکاګو، ١٩٤٦، ,٥
٨- پورنی اثر، ,١٤
٩- هومر بالابانس، د سقراط، افلاطون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه

انسان، ژباړه د محمد حسن کاکړ، خپرونه د افغانستان د کلتوري ودي ټولنه، کابل، ۲۰۱۰- ,۱۳۸۹

۱۰- افلاطون، د سقراط وروستۍ ورځې، د هرولډ ټارانټ ژباړه په انګریزي کې ۱۹۶۹. دغه اثر په بېلو نومونو ډېر چاپ شوی دی.

۱۱- اسلام، د جان ولیمنرتدوین، د جارج برازیلر خپرونه، نیویارک، ۱۹۶۲، ,۱۷۵

۱۲- ګري لینګ، ژوند، سکس او آیډیاګاني، اکسفورډ پوهنتون خپرونه، ۲۰۰۳، ۲۳۰.

# جان سټوارټ مل
# په نوي دقيقو کې

**د آزادۍ فلسفه، تجربي فلسفه، د ګټورتوب فلسفه**

# جان سټوارټ مل په نوي دقیقو کې

**د خورا ډېرو خورا ډېره نیکمرغي د قانون او اخلاقیاتو بنسټ دی**

د ګټورتوب فلسفې "سپېڅلی رښتین توب"

جان سټوارټ مل ( John Stuart Mill) د خېر رسولو یا ګټورتوب فلسفې (utilitarianism) ستر مفسر ګڼل کیږي، خو هغه دغه فلسفه نه ده ایستلې; حتی د هغې د ډېر پراخ نفوذ نوښت یې هم نه دی کړی. دا د غېرعادي نومیالي جیریمي بینتهام (Jeremy Bentham) کار و.

جان سټوارټ مل د ژوند په وروستیو کلونو کې د بنتهام یو دقیق انځور کښلی: " هغه نه دنننی تجربه لرله نه باندنی. هغه نه شتمني او نه دښمني

پېژندله، نه قوي جذبه، نه په مړه ګېډه مړښت. هغه حتی هغه تجربه نه لرله چې د ناروغۍ له امله وي. هغه له ماشومتیا نه تر پنځه اتیا کلنۍ پورې د هلک توب په روغتیا کې ژوند کړی. هغه نه خپګان، نه د زړه دروندتوب احساس کړی دی. هغه تر پایه پورې هلک پاتې شوی و."

د بنتهام کورنۍ هغه ته کافي شتمني پرې ایښې وه چې بې له کارکولو نه ژوند وکړي: هغه د بخت له دغه نعمت نه بېسارې ګټه اوچته کړه. خپل ټول ژوند یې فکر کولو ته ځانګړی کړ، خو دده ټول تفکر د فلسفې او نظري مسئلو په اړه نه و. د وړاندې تلونکې ګټې رسولو ایډیال چې هغه وړاندې کړ، دده په ټول سوچ نفوذ وکړ. بنتهام په ټولو ساحو کې پر مختګ غوښت. له سیاست نه تر محبس، له فلسفې نه تر یخ شویو نخودو پورې. د هغه ډېره نامتو عملي پروجه د بندي خانې په اړه یو نوی انقلابي تجویز و، په نامه د پان اپټیکان (Panopticon) یا ټول لیدونکی. دا د یوې ارابې په شان و چې په باندې خوا کې یې حجرې او په محور کې یې د چلوونکي یا امر برج تجویز شوی و. دغه ټول لید برج (pan optic) د محبس امر په دې قادر کاوه چې د ټولو کوټو څارنه وکړي، بې له دې چې پخپله ورته ورشي. خو دا ددغه اثرناک محبس د مؤسس یوازنۍ ابتکاري خاصه نه وه. بنتهام وړاندیز وکړ چې دده دغه محبس دې د ګټې کوونکې معاملې په شان وي، په دغه ډول چې هغه به خپل لګښت پخپله پوره کوي او هغه سخت کارونه چې بندیان یې کوي " ډېر بېلارې به پر لار برابر کي." دغه پروجه به په انسان پالي هم واوړي، ځکه چې چلوونکی به یې بندیانو ته ښه خواړه ورکولی وشي او روغتیایي حالت به یې ښه و ساتل شي او بندیان به چې څومره ډېر کار وکړي، هغومره ډېرې پیسې و ګټې. بنتهام په دغې پروجې کې دومره ډوب شو چې په

داسې حال کې چې کوښښ يې کاوه حکومت و هڅوي هغه عملي کړي، دغومره ډېر لګښتونه وکړل چې مفلس شي او نزدې و چې بندي شي. د افلاس له قوانينو سره د هغه آشنايي ( چې لاهم د اته څلوېښتو ساعتونو لپاره يو ډول کړول کېدل او د غوړو پرې کېدل پکې و) يو عبرتناک درد و.

د بنتهام نور عملي تجويزونه د تليفون له پخواني حال ( چې د مخابرې، تيوبونو له شبکې نه کار اخيستل کېده.) تر هغې پروجې پورې رسېده چې د پانامه ټرانګه له آرام سمندر سره په يوه کانال سره و مښلوي. دده بله پروجه د ترکاري سړول وه چې په ژمي کې په عيسوي اختر کې نخود و خوړل شي. نورې پروجې يې د قانون اصلاح، د مستعمرو خپلواکي د برتانيې د اساسي قانون تسويد، د لندن پوهنتون تاسيس او په پای کې د افلاس د پوره اړولو په هکله وې.

بنتهام د خپل ژوند ډېره برخه په دې کې تېره کړه چې حکومتي لويان خپلو پروجو ته متوجه کړي، خو ده پخپله دغه کار نه کاوه. دی يو محجوب شخص و او غوره يې ګڼله چې ګوښه ژوند وکړي او خپل وخت خپلو پروجو او نظريو ته ځانګړی کړي او يوازې له خپلو اخلاصمنو دوستانو او پلويانو سره ليدل کتل وکړي. ددوی په ډله کې جېمز مل (James Mill) د جان سټوارټ مل پلار شامل و. دغه کسان د فلسفي افراطيانو (philosophical radicals) په نامه يادېدل او دوی د بنتهام تجويزونه عام کول. د هغه د نظريو پلويتوب پراخ اثر وکړ، په خاص ډول په پارلمان کې چې هلته د هغه د متحدانو په ډله کې ډېويډ ريکارډو (David Ricardo) و چې د خپل وخت لوی اقتصاد پوه ګڼل کېده. حتی رسمي مقامونو ته د بنتهام پرله پسې فشار اچوونکې ليکنې

(کله کله نابېره) د لویو اصلاحات لامل کېدلې. د انګلستان بانک له ګورنر سره د نه جعل کېدلو بانکنوټ په اړه چې ده تازه پرې فکر کړی و، په مراوده کې هغه وپوښته چې په څه شمېر بانکنوټونه په جریان کې دي. د بانک ګورنر درک کړه چې دی یې په اړه معلومات نه لري. په بانک کې بل څوک هم پرې نه پوهېده. بانک، ددې لپاره چې د پیسو د جریان د کنټرول ادعا کولی وشي، درک کړه چې مالومه کړي دغه نامالوم شمېر څومره په دوران کې دی. په دغه ډول جرمي بنتهام په بانکنوټونو باندې د شمېر لیکنې او هم د لومړي مالي سیاست د مسئوولیت ادعا کولی شي.
بیا هم بنتهام د یوه ځلاند سودایي شخه ډېر لېرې و. د هغه ټول څو اړخیز تجویزونه او پروجې د یوه مرکزي پرنسیب له مخې وې چې هغه د ګټې رسولو ایډیا (utilitarian idea) پر اساس ولاړې وې چې "طبیعت بشر د دوو خپلواکو بادارانو - درد او خوښي- تر حاکمیت لاندې کړی دی. یوازې دننه په دوی کې ده چې ویل شي، موږ باید څه وکړو، لکه هسې چې موږ څه کوو." په هغه وخت کې دغسې یو ځلانده او انسان پاله افراطي ګڼل کېدله. دغه واقعیت چې اوس موږ ته څرګند ښکاري، تر زیاتې اندازې د بنتهام، جېمز مل او د هغه د زوی، جان سټوارټ مل او د هغو د ګټورتوب فلسفې د ملګرو د برکته ده. هغه څه چې موږ یې مسلم ګڼو، د تاریخ په بهیر کې په ډېرو ټولنو کې دغسې نه ګڼل کېدله او، له یو څو نه پرته، په ډېرو ټولنو کې اوس هم همدغسې پاتې ده. د بنتهام د ګټې رسولو د ایډیال نتایج په نېغه توګه په ډموکراټیک لیبرالېزم واوښت چې د لویدیز په آزادو ټولنو کې نفوذ کوي.
د بنتهام د ګټورتوب فلسفه پر هغه څه ولاړه ده چې هغه " سپېڅلی رښتینتوب" باله. ددغه "رښتین توب" ادعا داده چې "د خورا ډېرو لپاره

خورا ډېره نېکمرغي اخلاقيات او قانون دی." د هغه مقصد دا و چې فلسفه او ورسره د اجتماعي پوهو پرنسيپونه د طبيعي ساينسونو په شان دقيق کړي. هغه د ګټورتوب فلسفې او د هغې د نيکمرغۍ پرنسيب د اخلاقياتو د نوې جاذبې قوت په شان وپېژنده. هغه په ډاډه زړه هيله کوله چې د هغې په پای کې به دی يوه ورځ د ټولنېزو پوهو او فلسفې، نيوټن په شان و پېژندل شي. د هغه اساسي دليل د "ګټې رسولو پر پرنسيب" بنا دی چې هغه د اخلاقي پرنسيپ په شان ورته کتل. کوم څيز چې د خوښۍ لامل کيږي، ښه او هغه چې د درد لامل کيږي بد دی. خو ددې لپاره چې دغه پرنسيپ اخلاقي وي حتمي ده چې د ټولنې له نظره ورته و کتل شي. کوم هغه چې پر حق وي، د هر يوه نېکمرغي اعظمي حد ته رسوي او هغه چې غلط وي د ډېر درد او رنځ لامل کيږي. موږ چې هرکله له سختو فيصلو سره مخ کيږو، حتمي ده چې نږه نېکمرغي له سوچه درد سره اندازه کړو.

دا موږ د ګټورتوب فلسفې له مشکل سره مخ کوي. څنګه ممکنه ده چې موږ په فردي يا د ټولنې په سطح کې خوښي اندازه وکولای وشو؟ بنتهام د خوښۍ د دقيقي اندازه کولو دغه ستونزه د "نېکمرغۍ محاسبې" (felicific calculus) سره په تفصيل هواره کړه. ده په خپل تحليل کې د خوښۍ اوه بېل بعدونه په لست کې ونيول، په شمول د هغه د دوام او د فردونو په شمېر سره چې په هغه سره متاثر کيږي. هغه داسې هم د شخص خوښي څلور بېل ډولونه په لست کې ونيول چې هغه له قدرت، شتمنۍ، مهارت، ښه نوم او په پای کې خو نه لږ بد نيتي (malevolence). داسې هم هغه يو درجن " ساده دردونه" و شمېرل چې په هيله کې له ناهيلۍ څخه پيدا کيږي ( دا هغه کټه ګوري ده چې موږ ټول مساکستان

(masochists) کوي. [هغوی چې له زورېدلو او سپک کېدلو څخه خوند اخلي] خو څرګند حقيقت دادی چې خوښي، فردي وي يا ډله ييزه، په کمي لحاظ اندازه کېدلی نه شي. داسې ټاکلی معيار نشته چې د يوې انګېزې يا محرکې (stimulus) شدت به په عام ډول له هغه نه راپيدا خوند ته مربوط کېدلی وشي. يو هندی فقير ممکن له ترخې قورمې يا د اغزيو له توشکي نه خوند واخلي، په داسې حال کې چې هغه به يوه دنمارکي ته د زغملو وړ نه وي.

بنتهام له جېمزمل سره له نژدې څخه کار وکړ او له زوی جان مل سره يې د زړه مينه وښووله. دواړو ډېر زر ستوارټ مل د بنتهام وارث وليد، هغه ايدياليي انتخاب چې د بنتهام د ايډياګانو څراغ به بل نسل ته ورسوي.

بنتهام د ۱۸۳۲ کال د جون په ۱٦مه مړ شو، دوې ورځې وروسته له هغه چې د اصلاح لايحه (reform bill) په پارلمان کې ومنله شي، د کومې لپاره چې هغه ډېرې هڅې کړې وې. دغې لايحې د برتانيې سياسي څېرې ته تغير ورکړ، په دې چې د رايي ورکولو حق يې دومره پراخ کړ چې د ښارونو لوی مرکزونه يې په نظر کې ونيول چې د صناعتي انقلاب له امله پړسېدلي وو. بيا هم دا هغه ډموکراسي نه وه چې موږ يې پېژنو؛ د ښکته منځنی طبقې او د کارګر طبقې ټول له رايي ورکولو نه بې برخې وې. سره له دې هم هغه په برتانيې کې د عامه ډموکراسي شروع وګڼل شوه چې په يوه پېړۍ کې يې تحقق وموند.

د بنتهام د مرګ هره برخه هغسې غېرعادي وه، لکه ژوند چې يې و. د هغه په "عصري علمي" وصيت کې ويل شوي وو چې، د جنازې په وخت کې دې د هغه تن د ويرجنو دوستانو په مخ کې ټوټه ټوټه شي او بيا يې هډوکي موميايي شي، په داسې حال کې چې د هغه د خوښی په دريشي

کې د چکر وهلو په کالیو او د وښو په شاپو کې دي، په ښیښه یي صندوق کې ننداري ته کېښوول شي. ده چې هغه اټوایکان (auto-icon) [پخپله جوړ شوی تصویر] و گاڼه تر بلي هرې مجسمې څخه یې ډېر دقیق او مناسب یادگار وباله. دغه بیاباني غول (ghoulish) څېره چې د هغه له وصیته سره سمه درول شوې وه اوس په لندن کې د پوهنتون کالج کې په ښیښه یي صندوق کې لیدل کیږي چې ده د هغه په تاسیس کې قوي رول لوبولی و. (محصلان چې د بنتهام د خوښۍ د پرنسیب له مخې عمل کوي، هر څو کاله د هغه مومیایي شوی سر " آزادوي")

# د جان سټوارټ مل ژوند او آثار

جان سټوارټ مل د ۱۸۰٦ کال د مي په ۲۰مه په لندن کې پیدا شو. پلار یې له اول نه د هغه پوهنه پر غاړه واخیسته. جېمز عزم کړی و چې د خپل زوی نه یو نابغه جوړ کړي. جان مل په درې کلنۍ کې د ریاضي او لرغوني یونان په زده کړې پیل وکړ. په اته کلنۍ کې یې د لاتین، الجبرې او هندسې په زده کړې پیل وکړ. دی تر دوولس کلنۍ پورې د منطق او فلسفې لپاره تیار مالومېده، خو هرڅه د پلان له مخې وړاندې نه لاړل. داسې ښکاري چې ځوان مل په اوه کلنۍ کې د افلاتون دي ټيټس (Theaetetus) په یوناني ژبه کې لوستلی وي. دی که څه هم ددغه اثر د کلمو په مانا پوهېده او جملې یې ویلای شوې، خو درک یې کړه چې د مفهوم د پوهېدلو وسه یې نه لري. د افلاتون ددغې لوړې سویې، ډیالوګ چې په نظر کې ونیول شي چې پکې د علم لوړ اوښکلي ټکي څنګه تعریف شي، د ځوان مل دغه حیراني د تعجب وړ نه ښکاري، خو نه د هغه پلار ته. هغه خپل زوی ته ویل چې دغه اثر بیا ولولي.

د جان مل ښوونه، په پرله پسې او حتمي ډول هر سبایي په شپږو بجو پیل کېدله او ټوله ورځ به یې دوام کاوه. په عادي لوبو کې له نورو کوچنیانو څخه ګوښه ساتل کېده او تفریح ته نه پرېښوول کېده چې نه چې "د کار عادت مات شي او دلتې میل پیدا شي." شعریاتو او تخیلاتو ته په ښه

نظر نه کتل کېدل. مشر مل په دې عقيده و چې شخصي جذبې بايد د عمومي اجتماعي رضا او موافقې، يا نارضائيت په وړاندې وځپلې شي. د هغه دلارښود روحيه د والټر لنډور دغه شعار وو: " يو څو آشنايان لا لږ دوستان، پېژندګلويان هيڅ نه" جېمز مل چې د بنتهام د خوښې يا نيکمرغۍ د پرنسيب عام مبارز او د ستر اقتصادي متفکر، ريکاردو (Ricardo)، لوی خواخوږی سلاکار و، دننه په خپل کور کې په واقع کې د کلاسيکي ويکټوريا د عصر يو هيبتناک حيوان و، د خپل زوی د پوهنې سره د هغه زيږه انديښنه بيخي ډېره وه. جان ستوارټ مل تر ديارلس کلنۍ پورې د هغه په خپله وينا " د سياسي اقتصاد ټول کورس تمام کړی و." دا کومه مبالغه نه ده. ده د خپل پلار او ريکارډو تر منځ مباحثه کې ګډون کاوه؛ نوي اقتصادي افکار به يې جذبول او حتی پخپله به يې هم نظرونه وړاندې کول.

مل په ۱۸۲۱ کې په پنځلس کلنۍ کې د قانون او اخلاقياتو په اړه د بنتهام اثر تر لاسه کړ. همداچې د هغه درې واړه ټوکونه يې ولوستل، وې ويل چې: "زه اوس يو بل انسان شوی يم." د بنتهام او د هغه فلسفي نظريو ته د هغه ستايني حد نه لاره. " زه اوس د هغه څه څښتن شوم چې په ژوند کې به د موخې په نامه ياد شي؛ چې د نړۍ مصلح شم."

بنتهام د خپلو آثارو له خپرولو سره هيڅ علاقه نه لرله، هغه دغه کار خپلو پلويانو ته پرېښود چې د هغه د ناتمامو ليکنو نه کتابونه جوړکړي او د هغه ټول فکرونه د کتاب په دول واړوي چې ده هره ورځ د هغې موضوع په اړه څرګندول چې خيال ته به يې راتلل. ستوارټ مل په اتلس کلنۍ کې په دغې ډېرې غټې پروجې لاس پورې کړ چې د بنتهام د زرګونو نوټونو ليکنې، له يو ميليون نه ډېرې کلمې کېدلې، تنظيم کړي. دغه کار په پای

کې د شواهدو په اړه (On Evidence) څو ټوکیز اثر شو.

مل وروسته د خپل ژوند په اړه کتاب (Autobiography) کې په څرګند ډول ښکاره کړه چې: " زه هېڅکله هلک نه وم." یو څوک د هغه د کور دننني فضا تصور کولی شي چې دغسې څوک یې مشر وي چې د زوی په وینا یې " هغه هر ډول قوي جذبې ... په وړاندې ټینګه کرکه ښووله. ده هغه لېونتوب ګاڼه." خو د مل مور دا ټول په څه سترګه کتل؟ هغې یا د وېرې یا ناتوانۍ یا استعفی له امله هیڅ و نه کړل. داسې ښکاري چې هغې دا ټول دمخه لیدلي وو. د هغې مور دارالایتام چلولی و. له همدې امله به وي چې جان مل د خپلې اټوبایوګرافۍ په ۳۲۵ مخونو کې د خپلې مور یادونه یو ځل هم نه ده کړې.

جېمز مل د خپل زوی په دماغ مېنځلو کې دغومره بریالي وو چې تر اوه ویشت کلنۍ پورې د هغه دنننۍ ژوند په دلیل او عقل سره پوره اداره کېده. ځان ته یې اجازه نه ورکوله چې د پلار د هغه دماغ مېنځلو دماغ نه آخوا شي. دی حتی له خپلو استثنایي استعدادونو نه هم بې خبره و. هغه یې داسې ګڼل چې " هغه د همزولو له [استعدادونو څخه] نه دباندې او نه لاندې وي؛ څه چې زه کولای شم د متوسط استعدادونو هر هلک او نجلۍ یې په یقین سره کولی شي." دغسې قضاوت یوازې د هغه چا له خوا کېدلی شي چې له خپلو همزولو سره یې هیڅ نه وي لیدلي، یا په آزاد ډول ورسره ګړېدلی نه وي. سره له دې هم په دغه ځوان باندې چې هیڅکله هلک نه و، له ځان نه د خبرتیا حس ورو ورو غلبه وکړه. په داسې حال کې چې د ۱۸۲۶ کال په مني کې، د لندن له غبار نه ډک ښار کې د پخوا په شان پرله پسې کار کاوه، دمه وکړه او له ځان نه یې و پوښتل چې: " داسې وګڼه چې ټوله آرمانونه دې په ژوند کې پوره شوي دي. ... آیا دا

به تاته غټه خوښي او نېکمرغي وي؟" د هغه په خپلو الفاظو يوه نوې نه ځپل کېدونکې ځان ويښتيا آواز په څرګند ډول ځواب ورکړ چې، 'نه'. په دغه ځواب سره مي دننه په وجود کي زړه ډوب شو. ټول هغه بنسټ ونړېده چې ژوند مې پرې ولاړ و." دغه ځوان چې د نېکمرغۍ په فلسفې يې ټينګه عقيده لرله، ددې توان نه لاره چې هغه د ځان کړي.

جان ستيوارټ مل هغسې عصبي ناروغي لرله چې ډېر دمخه يې فکر کېده، خو ده هغه پټه ساتلې وه. داسې ښکاري چې حتی مور او پلار هم پرې خبر نه و. سره له دې هم ددغې ناکرارۍ په حال کې د تغيير سين روان و. مل په دې پيل وکړ چې د ويليم ورډز ورت (W. Wordsworth) (۱۷۷۰-۱۸۵۰) رومانتيک شعرونه او غېر عقلاني متفکرانو، لکه د فرانسې اجتماعي مصلح، سان سيمون (Saint -Simon) (۱۷٦۰ - ۱۸۲۸) ليکنې ولولي. بيا يوه ورځ يې ځان په ناڅاپي ډول وليد چې د فرانسې د جذباتي شاعر جان فرانسوا مات مانتيل (Jean- Francois Marmontel) يادونه لولي. هغه وخت چې دغې فقرې ته ورسېدې چې شاعر په هغې کې د خپل پلار مړينه بيان کړې وه، مل په ژړا شو. دی وايي چې دی په خپل ذهن کې ددغې صحنې په "څرګندې مفکورې" سره و خوځېد. که څه هم دی دې ته اشاره نه کوي چې په هغې کې په رښتيا څه پېښېدل. د هغه خپله ځپل شوې هيله چې دده په خپل ژوند کې به دغسې صحنه پېښه شي چې له فرويډ نه دمخه وخت کې به دغسې روښانه نه وای. مل دغې نتيجې ته ورسېد چې دی اوس بيرته روغ شوی دی. " ددغه فکر ځپل چې په هغه کې ټول احساسات به مړه شوي وي، له مېنځ څخه لاړ." اوس نو جان مل ځان دې ته ځانګړی کړ چې انسان پالنې ته په خپلې فلسفې کې ځای ورکړي.

مل که څه هم د ګټورتوب په فلسفې ولاړ و، په دې پیل وکړ چې په مؤسسانو یې انتقادي شي. د بنتهام په اړه یې درک کړه چې " ځان ویښتوب زموږ د عصر د نوابغو هغه شیطان [ یاني د رومانتیک غورځنګ پلویان لکه ورډزورت ] په هغه کې هیڅ ویښن نه شو." دی دغې نتیجې ته ورسېد چې بنتهام " د هغو ډېرو بې برکتو او بې حاصله خلکو په نسل پورې [تعلق لاره] چې انګلستان تل تولید کړي دي." دغه وروستۍ تبصره له خپل پلار سره د اشارې نه ډېر د غېر شعوري دښمنۍ تمثیل کوي، خو دی په همدغه وخت کې هم معتقد وو چې "بنتهام د بشریت ستر خېر غوښتونکی و." مل د ګټورتوب په فلسفه کې د انسان پالني عنصر له ننه ابستلو نه برسېره، په دې لټه کې شو چې ټول مفهوم یې پراخ کړي. هغه ددغه کار په کولو سره په دې پیل وکړ چې د لېرې رسېدونکي او اصلاحي لیبرالي ایډیا په داخل کولو سره دغې مشخصې او په منطقي لحاظ مستدلې فلسفې ته تحول ورکړي.

د هغه له څرګندې وینا سره سم چې روغ شوی، مل ورو ورو له خپل عصبي رنځ نه پوره روغ شو، خو اوس یې د ټنګ ټکور کلاسیکي کانسرټونو ته په تللو سره د خپل پلار نارضائیت ځان ته متوجه کړ. خو له کانسرټ نه د خوند اخیستلو په حال کې د هغه تېره ذهن دغه وېره حس کوله چې حتمي ده چې ټوله موسیقي به په ځای ودرېږي. هغه یوازې محدود نوټونه لري او هغه به یوه ورځ په یقین سره آخر ته ورسیږي. (له دغې ساده تېروتني سره سره د مل استثنایي منطقي قدرتونه او ذهني سلامتي له نیکه مرغه بیرته په حال شول.)

دغه محتاط، په قانون ولاړ او غېر عادي مستعد ځوان چې مل و، ددغې عصبي ناروغۍ له تجربې نه د یو ډېر نادر صفته انسان په شان راووت. د

هغه غیر تخیلي سختوالي پر ځای چې پلار یې پکې ترزیق کړی و، مل په استثنایي ډول د پوهاوي شخص شو او د عادت له مخې همدا چې د بل چا نظر یې اورېده، ځان یې پرې پوهاوه. د هغه د هدف نجابت اوس د عمل او واقعیت په ډګر کې اعتدالي شو. هغه دغه احساس ته چې انساني نېکمرغي څه مانا لري، پراخ انکشاف ورکړ او له تنګ او نه بخښل کېدونکي (بخښل کېدونکي) فرقه ییز احساس نه یې کرکه هم کوله.

بیا نو هغه څه چې حتمي وو، پېښ شو. مل په څلېرویشت کلنۍ کې په دغسې ښځې مین شو چې ښه جذابه او ډېره ذکي وه. دغه دوه ویشت کلنه هرېیت ټېلر (Harriet Taylor) یوه سوزناکه شاعره خو، د کنټرول شوي جذبې خاونده وه. هغې هم د هغه مینې ته سمله لاسه د هو ځواب ورکړ. خو هغه له بده مرغه د یوه ډېنامیک او بریالي بزنسمین سره واده وه، خو د هغه د پوهاوي بېساري خاصیتونه د مل له پوهاوي سره جوړ راغلل. جان ټېلر له خپلې مېرمنې سره مینه لرله، خو هغې زړ خپل د ژوند ملګری و هڅاوه چې پر مل مینه ده. د هغه وفادارۍ حس له مخې چې له خپل مېړه سره یې ژوره مینه لرله، هغه قانع کړ چې په داسې حال کې چې له خپل مین سره په لیدلو ټینګار کوي، ددوی تر مېنځ به "نامناسب توب" نه وي. د یوه کال دننه وکتوریا د برتانیې ملکه شوه. په عین حال کې دغه سوچه وکتوریایي اخلاق شل کاله اوږد شو.

مل هرېیت په منظم ډول لیدله، کله د اونۍ په اخیر یا ویک اینډ کې چې ټېلر به چېرته د بزنس د پاره تللی و، هلته پاتې کېده. کله به چې دغسې چانس نه برابرېده، ټېلر به د ډوډۍ خوړلو نه وروسته په مهارت له کور نه وته او کلب ته به ته او د مېرمنې مین به یې د یوه افلاتوني ماښام تېرولو لپاره د فلسفې او شعري جدي بحث لپاره ښکاره شو. خو کلونه

وروسته جان ټېلر يوځه تند مزاجه شو. د ستوارت مل يوه ورروځه (ورځه) په غېر ارادي ډول پورته او کښته رپېدله او هرې يټ يو لړ عصبي تکليفونه پيداکړل. له دې سره هم هرڅه په سطح کې يوځه آرام ښکارېدل. په بيخي ډېره اندازه يې له عالي احساس نه په استفادې سره دغې ازمېيل شوې ډلې و کولای شوای په خپله غوره شوې لار کې بريالي وي. ټېلر د کيميا په بزنس کې ګټه وکړه، مل يو استثايي فيلسوف شو، هرې يټ د هغه د ايډيا ګانو په انکشاف کې غټ رول و لوبوه. (مل وروسته ادعا وکړه چې هغې دده د ډېرو لويو آثارو په ليکلو کې برخه لرله.) په عين حال کې وکټورياييي پس پسکي چالانه وې، خو مل هر هغه څوک سخت ترټه چې د هغه د مينې نوم به يې په خوله اخيسته. ټېلر هره شپه خونده ورو ډوډيو او واين څښلو ته زور ورکړ او هرې يټ د ضعف کولو غېر عادي استعداد وښود.

مل خپل عادي ډېر کارکولوته دوام ورکړ. په اتلس کلنۍ کې په ملکي سرويس کې ننوت او د ختيځ هند شرکت کې يې دنده تر سره کوله چې پلار يې هلته يو لوړ پوړی چارواکی و. (جېمز حاضر نه و چې زوی يې خپل عقلاني ميراث په پوهنتون کې ضايع کړي.) څو کاله وروسته جان سټوارټ مل د نفوذمني ويسټ منسټر مجلې چلول پر غاړه واخيستل چې دغسې نامتو ليکوالان لکه کولړج او جورج ايليټ يې جذب کړل. (د مجلې د ډېرو فلسفي او ادبي کارنامو په لړ کې د انګليسي عمومي لوستونکو ته د ايمانويل کانت ورپېژندل او د نا اورېدلي شوپنهاور ارزونه وه چې هغه يې په لږ وخت په جرمني کې مشهور کړ.)

تر دغه وخت پورې د بنتهام حضور په ښيښه يي صندوق کې د بياباني غول د صورت په شان محصور شوی او په ۱۸۳٦ کال کې جېمز مل د

نزعې په حال کې و چې ستوارټ مل بیا په عصبي ناروغۍ اخته شو. له همدې کبله به و چې پلار یې په وروستیو ورځو کې لیدلی و نه شو. د جېمز مل د مړیني نه وروسته، زوی یې بیا روغ شو، خو د وروځې غېر ارادي رپېدا یې تر پخوا نوره هم شدیده شوه.
جان ستوارټ مل په ۱۸٤۳ کال کې 'د منطق سیستم' په نامه اثر خپور کړ چې په هغه سره یې نوم وایست. دغه اثر د جان لاک، برکلي او هیوم د برتانیې د تجربې عنعنې په لار کښل شوی، خو د جرمني میتافزیکي فلسفه یې چې، ایمانویل کانت (۱۷۲٤-۱۸۰٤) او هیګل (۱۷۷۰-۱۸۳۱) ورته انکشاف ورکړی و، له نظر نه وغورځوله. (مل په دې قانع وو چې میتا فیزیک رد کړي. د جرمن میتافیزیک یوازې له هغو څو موضوعګانو څخه و چې هغه سخت وپاروي. هغه لا څرګنده کړه چې له هیګل سره آشنایي (یو څوک له عقل نه محروموي.) د مل امپیریسیزم هغه فلسفي ډګر هوار کړ چې د خپل ګټورتوب فلسفي ایډیاګاني پرې خورې کړي.
مل د تجربي فلسفې د پلویانو په شان فکر کاوه چې کومه هغه پوهنه چې موږ یې تر لاسه کوو، په نهایت کې له تجربې څخه راوزي. دغه ډول راوتنه به د عقل نه کار اخیستل په غېر کې ونیسي، خو حتی پخپله عقلي استدلال هم د تجربې محصول دی او په تاریخي، روحیاتي او فلسفي مفهوم موږ عقل د شمېرېز استقرا (enumerative induction) له لارې کشف کوو. یاني موږ عمومي حکمونه (generalization) کوو چې هغه په مکرري شمېرني سره استقرا کېږي [ د استقرا یاني له جزییاتو نه د کلیاتو استنتاج کول ] موږ د (الف) پېښه مشاهده کوو (لمر) چې په ظاهر کې د (ب) پېښي (د یخ اوبه کېدلو) لامل کېږي. موږ دغه پېښه په وار وار مشاهده کوو، بیا موږ دغه نتیجه اخلو چې (الف) د (ب) لامل کېږي

(لمر یخ اوبه کوي). د مل د فکر له مخې ټول علمي تفکر په دغه ډول کار کوي. هغه د تجربوي یا ازمایښتي تجربې له مخې کار کوي.

مل ښه درک کړه چې استقرا (induction) خطا کېدونکې ده. فرق نه کوي چې موږ څو واره د پېښو لړۍ ووینو، موږ هیڅکله باوري کېدلی نه شو چې بل ځل به کوم مختلف څیز ښکاره نه شي. دا چې ټول قوګان [یو ډول مرغۍ چې په اوبو کې لامبي]، سپین دي، تل د رښتیا په شان منل شوي وو، خو د اتلسمي پېړۍ په پای او د نونسمي پېړۍ په پیل کې په استرلیا کې د اروپآیانو په میشته کېدلو سره مالومه شوه چې تور رنګه قوګان هم شته دي. په استقرا سره د پوهې په ترلاسه کولو کې د ناسم توب امکان تل شته. خو مل ټینګار وکړ چې دغسې پوهه د اعتبار بېلې درجې لرلی شي. دا هم په تجربې سره مالومېدلی شي چې موږ دغه پوهنه څنګه ترلاسه کولی شو او چې هغه کوم ډول شواهد تولید کړل. که دغه پوهه د نورې پوهې په ترلاسه کولو کې ګټوره ثابته شوه، ښیي چې هغه د یقیني توب له لوړې درجې نه بهره منه ده. د تجربو عمومي طرح ګاني (patterns) د طبیعت "قوانین" تهیه کولی شي چې هغه پخپل وار د طبیعت د نورو قوانینو په ټاکلو کې ګټور کېدلی شي. دغه حقیقت چې ډېر تېزابونه له القلي (alkali) سره په تعامل کې مالګه جوړوي، کیمیا پوهان دغې فرضیې (hypothesis) ته و هڅول چې ممکن ټول تېزابونه له القلاید سره په تعامل کې مالګه جوړه کړي. دا به بیا و ازمایل شي او په دغې پروسې کې به ډېر ځانګړي تعاملونه کشف شي.

د یقیني توب دغه ارزونه به حتی په غېرساینسي ډګرونو کې هم پېښه شي. په اوله کې د پېښو د یوې ځانګړي لړۍ په اړه، زموږ استقرا به په خپله رامېنځ ته شي. د بیلګي په ډول، موږ کشف کوو چې د ډېر مقدار

بير (beer) څښل به موږ نېشه کړي. د زيات مقدار سايډر (cider) يا واين (wine) يا ويسکي موږ نېشه کوي. دا موږ دوهمي استقرا درجې ته هڅوي. د هر الکولي څښاک زيات مقدار څښل سړی نيشه کوي. لا مهمه داده چې موږ د خپلو تجربو په اړه د دوهمي درجې استقرايي نتيجې تر لاسه کوو. موږ د مکررو تجربو په رڼا کې دغې نتيجې ته رسيږو چې ټولي حادثې د عمومي مطابقت تر حاکميت لاندي دي. د هغو سلوک به له پخواني سلوک سره مطابقت وکړي. موږ نتيجه اخلو چې پخپله طبيعت له ځينو عمومي قوانينو سره مطابقت کوي. د مکررو او پراخو تجربو په پايله کې موږ دغې نتيجې ته رسيږو چې  هره پېښه (effect) يو علت (cause) لري. په تاريخي لحاظ د ژوند په يوه وخت کې دغه نتيجه ترلاسه کيږي؛ هغه زموږ د روحي ماشين يوه برخه ګرځي او په دې ډول هغه زموږ ټول فلسفي ليد ته ځانګړتيا ورکوي. هغه هغه طريقه کيږي چې موږ ژوند کوو؛ هغه طريقه چې موږ فکر کوو.

د عليت په اړه چې دغې نتيجې ته رسېدلي يو، موږ د يوه بل علمي کشف په لور د "له مېنځ نه وړني استقرا" (eliminative induction) له لارې مخ په وړاندې ګام اخيستلی شو. موږ يوه پېښه تجربه کوو او څو ممکن علتونه کشف کوو. يو څوک مري؛ موږ ټول ممکن علتونه ازمييو. د يوه عضوي حيوان جنس يا نوع پوره له مېنځ څخه ځي؛ موږ خاص علتونه څېړو او له نظر څخه غورځوو. يو په بل پسې ډول ډول علتونه له نظر څخه غورځول کيږي، تر څو چې موږ استقرايي "سم" ځواب ومومو. دا په خپل وار د طبيعت د قانون په اړه زموږ د فردي عقيدې تفکري اثر پياوړی کوي. خو هسي چې موږ ليدلی شو، حتی دغه شمېريز استقرا د شمېريز استقرا پر پخواني پرنسيب باندې ټينګ ولاړ دی.

د مل په نظر شمېریزه استقرا په نهایت کې زموږ ددغې ټولې علمي پوهې توجیه یا اساس دی. په پای کې موږ په دغې طریقې ډډه کوو چې له دوو اساسي عنصرونو څخه استفاده کیږي: تجربه او یاد.

د مل استدلال ډېر قوت لري، خوځینې د ضعف ټکي هم لري. د دوهمي درجې له استقرا سره سره -لکه یو ډول والی او علیت- د هغه په استدلال د راتلونکي په اړه د هیوم په افراطي امپیریسیزم باندې غلبه کولی نه شي. زموږ ټوله استقرایي پوهه یوازې په تیري او اوسني توافق یا یو ډول والي (consistency) باندې ډډه کوي. داسې هم هغه زموږ په هغې ګڼې یا فرضیې ډډه کوي چې وایي راتلونکی به له تېر او اوسني مهال په شان یو ډول وي. د مل په نظر دغه ګڼه چې راتلونکی به تیرې ته ورته وي، زموږ په دوهمي درجې استقرایي پوهې پورې اړه لري. خو دا د منطقي ګردی څرخ له ځان سره لري. د هیڅ استقرا دپاره ممکنه نه ده چې وښیي راتلونکي به د تیري اوس یا راتلونکي په شان وي. په دغه ساده دلیل چې ټوله استقرایي پوهه په همدغې استقرایي پوهې ولاړه ده.

دوهم اعتراض پخپله د ساینس پوهانو له خوا دی. کومه هغه نوې طریقه چې دوی نوي قوانین پرې باسي، له دغې استقرا سره لږ تړاو لري، یا یې هیڅ نه لري. یو ساینس پوه حیرانوونکي واقعیتونه (facts) ازمیيي او بیا یې د شرح لپاره ډول ډول ګڼنې وړاندې کوي. بیا هغه دا تر ازمایني لاندې نیسي چې و ګوري که هغه له واقعیتونو سره اړخ لګوي. که یې مطابقت وکړ، دغه ګڼنه یا فرضیه د پوهې، ساینسي قانون او یا حتی د قانون په شان منل کیږي. بیاهم په دغه اعتراض باندې د مل متقابل استدلال یوڅه قوت لري. د هغه په نظر هره فرضیه به تل غېریقیني پاتې وي. نورې فرضیې به هم وي چې له دغو واقعیتونو سره به مطابقت کوي.

دا چې کومه یوه یې ومنله شي، د فرضیې استدلال کوم لاربښود نه ورکوي. ( د مل له انتقاد سره سره له شمېریز استقرا نه هره دوهمه درجه استقرا بیا هم له هماغه عیب نه خالي نه وي.)

د مل د تجربي طریقه هم دی له یوه بل زیانمن سوال سره مخامخ کوي. موږ ښنګه پوهېږو چې هغه پېښه چې موږ یې تجربه کوو، زموږ له تجربې څخه بېل شتون لري؟ په بله ژبه موږ څنګه پوهېږو چې په نړۍ کې یو څیز د یوه رښتیني او ټینګ ټکي په شان شتون لري؟ مل په متوافق ډول له دېنه انکار وکړ چې دغسې فرضیه وړاندې کړي چې زموږ له خبرتیا یا شعور نه دباندې یوه تلپاتې نړۍ وجود لري. پر ځای یې نظر ورکړ چې "ماده" به د یوه دائمي امکانیت په شان وګڼله شي. دی ډاډه و چې "ددغې مادي مفکورې ټوله هغه معنا په ځان کې نغښتې لري چې دغې ګڼې نړۍ ورپورې تړلي دي. ددغې ګڼې نړۍ نور اوسېدونکي به لږ قانع وي. مل په متمم ډول استدلال وکړ چې دماغ د " د احساس لرلو تلپاتې امکانیت دی." زموږ دماغ یو لړ احساسات او هیجانونه دي چې له خپل ځان نه د " شعور مزي" (thread of conscience) په شان خبرتیا لري. دغه مزی یا تار مخ په بیرته اړولو سره یادونه تهیه کوي.

دغه استدلال چې په روحیاتي یا فلسفي لحاظ څه ییښیږي، په خاص ډول قانع کوونکی نه دی، خو د "خبرتیا یا شعور مزی" په خپل ذات کې د راتلونکي د پاره یوه ښه نښه وه. نیمه پېړۍ وروسته وچې د امریکې سیکالوجي پوه ویلیم جېمز (William James) د دماغ او د هغه د دماغ او د هغه د "خبرتیا ویاله" (stream of consciousness) شرح کړ. مل ممکن ددغې ابتکاري او رڼې کوونکې مفکورې په لور لومړی ګام پورته کړی وي.

د مل په نظر موږ د منطق قوانین په شمېریزه استقرا سره کشف کوو. دغسې قوانین، لکه د پېژندګلوۍ یا هویت قانون (law of identity) چې یو څیز چې په عین حال کې چې خپل ځان او بل څیز کېدلی نه شي- چې له ورځنۍ تجربې څخه ددوهمې درجې استقراګانو په ډله کې راځي. په ورته ډول د ریاضیاتو قوانین له حادثاتو نه زموږ له استقرایي پوهنې نه راوزي. د یو عدد حکم د مفردو څیزونو له مشاهدې څخه راوزي. داسې هم د دوه عدد له جوړه څیزونو نه زموږ له مشاهدې نه راوزي. دغه دوه حکمونه په اساس کې سره تړلي نه دي، یا دا چې د یوه لړ ریاضي شعارونو څخه راوتلي دي، ددې مانا دا ده چې ۱+۱=۲ یوازې له تجربې څخه استقرا ده. دا په هیڅ ډول په منطقي یا په ریاضي لحاظ "ضروري" نه ده. دا استقرایي پوهه ده، لکه هسې چې "ټول قوګان سپین دي." د مل په نظر ممکن موږ یوه ورځ کشف کړو چې ۱+۱ دوه نه کیږي، خو څنګه چې موږ ډېرې تجربې لرو چې ۱+۱ = ۲ کیږي، موږ د هغه له رښتین توب نه په ډېره لوړه درجه متیقن یو.

مل دلته په واقع کې د خپل پلار پر ضد غږیږي چې هغه د ریاضیاتو په هکله نومپال (nominalist) وو. د هغه په نظر ۱+۱ یوازې د ۲ تعریف دی. ټول ریاضیات پر دغسې ساده تعریفونو بنا دي. داسې هم سټوارټ مل د نونسمې پېړۍ د ډېرو ریاضي پوهانو له خوا تر انتقادونو لاندې ونیول شو، په شمول د کیمبریج پوهنتون نامتو پروفیسر ویلیم ون ویل له خوا چې هغه د نېغې پوهې (intuitionalist) پلوی وو. د نېغې پوهې د پلویانو په نظر موږ هېڅ درک کولی نه شو چې ۱+۱ له ۲ سره برابر نه دي. هغه په غوڅه توګه د پوهېدلو وړ نه دي. نو ۱+۱ دوه کیږي. حتمي ده چې همدغسې وي. بله لار نه شته. ټول ریاضیات ددغسې بنسټیزو

بصیرتونو په پوره رښتین توب باندې بنا دي.
مل ددوی په وړاندې استدلال وکړ چې د نړۍ په اړه زموږ پوهه اوس هغه نظرونه دي چې له پخوا د درک وړ نه ګڼل کېدل. په ټوله منځنۍ دوره کې د درک وړ نه و چې مځکه ګردۍ ده او د لمر پر شاوخوا راګرزي. د نیوټن د جاذبې تر مشاهدې پورې د درک وړ نه و چې مځکې تر اوږده واټن پورې عمل کاوه چې په هغه سره یې د سپوږمۍ حرکت متاثر کاوه.
د مل د ریاضیاتو تجربي نظر له ستونزو سره مخامخ شوه. په تجربي پوهې پورې د عددونو مربوط کول غټ مشکل د ریاضیاتو اصلي ماهیت دی. زموږ په تجربي نړۍ کې د څیزونو محدود یا معین (finite) اعداد دي. له بلې خوا موږ پوهېږو چې هلته ډېر نامعین عددونه شته دي. له نوي هندسې نه هم ورته اعتراض جګ شو چې په دې وختو کې د روسي ریاضي پوه لوباچې وسکي (Lobachevsky) کشف کړی چې هغه د امپیریسیزم د ریاضیاتو نظر ته به خنثی ورکوونکې ضربه ثابته شي. لوباچېوسکي ښودلې ده چې د اقلیدس هندسه چې په هواره سطحه کې د تطبیق وړ ده، د هندسې یوازنی شکل نه دی. نورې پوره بیلې هندسې هم شته چې په منحني سطحو کې د تطبیق وړ دي. په فزیکي نړۍ کې دا زیاتره ارتباط نه لري. د ریاضي فضا او فزیکي فضا په هیڅ حال کې سره تطابق نه لري. دلته تجربه او ریاضیات سره جلا څیزونه دي.
مل په ۱۸٤٤ کې اقتصاد یا سیاسي اقتصاد ته چې هغه وخت په دغه نامه یادېده، مخ واړاوه. اقتصاد لاهم په ماشومتیا کې و. آدم سمت (۱۷۲۳-۱۷۹۰) ددغه دسپلین لومړنی بنیادي اثر، د ملتونو شته مني (The Wealth of Nations) په نامه اویا کاله دمخه خپور کړی و. مل په خپل اثر، د سیاسي اقتصاد پرنسیپونه، کې په عمومي ډول د هغو

پرنسيپونو له مخې غږېږي چې ادم سمت د لومړي ځل لپاره اېستلي او وروسته ډېوېډ ريکارډو (David Ricardo) ورته انکشاف ورکړی و. دغه عنعنه د "کلاسيکي اقتصاد" په نامه ياده شوه، خو مل يو څو مهم کشفونه پکې وکړل چې ددغه کلاسيکي اقتصاد د تلپاتې تغيير لامل شول. خورا ډېر ژور يې خورا ډېر ساده و. مل درک کړه چې قوانين د توليد په اړه دي، نه د وېش په اړه. د کار، مځکې او ماشين د توليد مؤثريت ټول به په ځينو افاقي قوانينو سره لړوډېر تنظيم شي. دغه قوانين په ځينو محدودونکيو عواملو سره متاثر کيږي، لکه طبيعت، (ډېره پرېماني يا قحطي)، د توليد مؤثريت (د کار يا د ماشين) او داسې نور. په دې ډول شتمني د هغو قوانينو او افاقي عواملو له مخې توليدېږي چې موږ قادر کوي د هغه مقدار تر اخيري حد ورسوو، خو هغه همدا چې توليد شوه، موږ يې وېش "اعظمي حد ته رسولی نه شو."

تر هغه دمخه سمت، ريکاردو او پلويان يې چې کوم وخت به له خپلو هغو قوانينو سره مخ کېدل چې دوی اېستلي وو، ځانونه معاف کړي وو. آزاد مارکېټ خپل "طبيعي" قوانين لرل او د هغو په اړه هيڅ کېدلی نه شول. په پرېمانی کې نرخونه کښته لوېدل او اجورې په حتمي ډول لږېدېلې. کرنيزه مځکه چې به نوره هم لږه لږه شوه، اجورې به پورته تللې. خبره دغسې ساده وه، که څه هم ډېر کړاوونه به گالل کېدل. د مل د توليد او ويش جلاوالي دغسې قوانينو ته، چېرته چې په وېش پورې يې اړه لرله، د پای ټکی کېښود. همدا چې شتمني توليد شوه، همدا چې مالونه مارکېټ ته تيار شول " انسانان په انفرادي يا ټولنيز ډول هغسې سلوک کولی شي، هغه دوی د هغه چا په اختيار کې ورکولی شي چې دوی يې غواړي." وېش "طبيعي" قوانين هيڅ نه لرل. "هغه مقررې چې هغه د هغو

له مخې ټاکل کيږي. د ټولنې د هغې واکمنې برخې نظرونه او احساسات دي چې جوړوي يې او هغه په بېلو بېلو دورو او هيوادونو کې ډېر مختلف دي او چې انسان يې و غواړي، ممکن نور هم مختلف شي." له وېش سره اخلاقيات يو عامل کيږي: مل وښودله چې اخلاقيات څنګه په پانګه والي اقتصاد کې خپله لار پيدا کولی شي.

دا يو ابتکاري بصيرت و چې د نونسمې پېړۍ سوشلسټانو او د مل هم مهال، کارل مارکس، څخه ډېر مختلف وو. (وروستي د کمونست مانيفست اثر په هماغه کال خپور کړ چې مل د "د سياسي اقتصاد پرنسيپونه" په نامه خپل اثر خپور کړ.) مارکس او سوشلسټان په دې لټه کې وو چې په سوشلستي کنټرول د آزاد مارکيت اقتصادي سيسټم ونړوي او اخلاقيات په اقتصاد کې داخل کړي. مل وروسته له هغه چې اول يې توليد له وېش څخه بېل کړ، نظر ورکړ چې چېرته چې شتمني په وېش پورې اړه لري، د ګټورتوب پرنسيپونه دې تطبيق شي. هغه وخت د شتمنۍ د وېش فکر او د ګټورتوب فلسفه د شمال او جنوب قطب په شان سره لېرې و. داسې ښکارېده چې هغه ددې له پاره طرح شوي وو چې د خورا ډېرو لپاره خورا ډېره بدمرغي توليد کړي. مل انقلابي نه و او نه يې غوښتل چې دغه سيسټم ونړوي. د هغه له نظرونو څخه مقصد دا و چې پخپله سيسټم ته تحول ورکړي، ددې لپاره چې ټولو ښکيلو خواوو ته يې ښه وګرځوي. د ګټورتوب فلسفه بې له شکه له اول نه اخلاقي فلسفه وه چې د عصر سوداګري پېچلتوب باندې تطبيق کېدلی وشي، بې له دې چې ساده يا اسانه ښوول شوې يا ناکافي وي. هغه به اقتصادي ټولنې ته سمله لاسه تحول ور نه کړي، خو د هغه عقلي او ورو ورو نفوذ به په يوې نيمي پېړۍ کې تر نن پورې جريان ولري. که څه هم په دغه

ډول اعتراف پرې شوی نه دی، خو د ګټورتوب فلسفه د کار مارکېټ، د اتحادیو مذاکرو او د اجرائیوي معاش په سطوحو کې لږ تر لږه د پرنسیب په څېر پر ځای پاتې دی. د هغه مراعات به و نه شي، خو هغه بې له دې چې انکار وشي ټولې دغسې اجتماعي معاملې پوهوي. دا یوازنی معیار دی. دا د یوه معیار په څېر ګرځېدلی، چې وېش باندې قضاوت کوو. ویل کیږي چې په لویو کمپنیو کې اجرائي رییسانو ته له حد نه ډېر معاش ورکول کیږي، هغه دی چې "مارکېټ یې حکم کوي." دا د تولید موضوع ده له اخلاقي بحث نه دباندې. ددغه تمرین په وړاندې اعتراضونه د مل د جلاوالي د پرنسیب څخه استفاده کوي او ټینګار کوي چې دا د وېش موضوع ده. ددې مانا داده چې دغسې مواجب تر اقتصادي نه ډېر د نورو ملاحظو تر حاکمیت لاندې دي. هغه ټول د اخلاقي قضاوت په ساحه کې واقع دي او دلته ډېرو ته ښکاري چې د هغه ډېر مناسب تطبیق به د ګټورتوب د ایډیا د ټول ګټې مفکوره وي.

مل هغه وخت خپل اثر "د سیاسي اقتصاد پرنسیبونه" په نامه لیکه، د عادت له مخې به یې له هري یت ټیلر سره په اونۍ کې لږ تر لږه یو ځل ډوډۍ خوړله. دی لاهم په ژور ډول پرې مین و. وروسته یې ادعا وکړه چې هغه دده له علمي کار سره تر دې حده ښکېل شوې و چې همکاره یې ګرځېدلې وه او د هغه د کتابونو په ځینو برخو کې ډېر ابتکاري فکرونه وړاندې کړل. د هغه په نظر هري یټ "د پوره هنرمني" دماغ لاره. په واقع کې د هغې "چټک پوهاوی" هغه ددې لایقه وګرځوله چې "د بشریت د واکمنو په ډله کې څرګنده څېره وګڼله شي." خو نورو چې مینې ړانده کړي نه و، هغه یو بل ډول شخص پېژندله: یوه استثنایي، یوڅه مغروره ښځه. حقیقت چې هرڅه وي انکار کېدلی نه شي چې هیریټ په دغو

کلونو کې د مل دپاره یو لوی الهام او ملاتړه وه. د هغې د همکارۍ دقیقه اندازه تر پوښتني لاندي ده، خو په دې کې شک نشته چې هغې ددغه عصر د یوه نامتو او پراخ نظره متفکر له آثارو سره فکري مرسته وکړه او هغه هم په غټه اندازه. له همدې امله و چې هغه په دې نژدې وختو کې د ښځو د غورځنګ د مخکښانو او نامتو کسانو په ډله کې شمېرل شوې ده. پخپله مل هم وروسته د ښځو په آزادۍ کې غټ رول ولوباوه او لکه څنګه چې و به وینو، هغه به له شک نه د هغې له ډېرو فکرونو نه بهره من شو.

په ۱۸٤۹ کې د هرې یټ مېړه مړ شو. دوه کاله وروسته، په پای کې مل له هغې سره واده وکړ. اوس نو دوی په یوه کور کې اوسېدلی شول، بېله دې چې نور ورپسې خبري وکړي. خو ددوی اړیکې د پخوا په شان وې، که څه هم په دې اړه په یقین څه ویل کېدلی نه شي. ټولي نخښي ښيي چې ددوی واده تر آخیري حد پورې هیڅ رسېدلی نه و. په رشتیا هم که وضع بل ډول وای، ژوند به یې توپیر لرلای. په دغه مرحله کې یوه هم ددې توان نه لاره چې په خپلو اړیکو کې فزیکي ستړیا ته غاړه کښېږدي. د مل وروڅې (ورځې) هماغسي په چټکۍ سره رېږدلې او هرې یټ له دغسې روحي- جسمي ناروغتیا (hypochondria) یا مالخولیا څخه زورېدله او یوڅه معیوبه شوه.

په ۱۸۵۸ کې د هند له بلوا نه وروسته د ختیځ هند کمپنۍ منحله شوه او حکومت د هند اداره په خپل لاس کې ونیوله. مل د کمپنۍ د یوه لوړپوړي اجرائیوي چارواکي په شان ښه تقاعد ترلاسه کړ. هغه او هیري یټ د فرانسې سهیل ته لاړل، چېري چې د هغه ځای ښې هوا په هغې ښه اثر وکړ. په دغه وخت کې معلومه شوه چې د هیري یټ "ناروغي ګاني"

تر روحي- جسمي ناروغتيا نه ډېرې وې. هغې د سل نرې رنځ لاره (چې په غالب احتمال پخپله له مل نه ورته نقل شوې وه هغه د سږي په مرض- ټوخي- اخته و.) همدا چې دوی د فرانسې اويګنن ته ورسېدل، هيري يې سختي تبې ونيوله. مل يوازې په هېبتناک حالت کې ليدل چې مينه يې په ژور ډول مخ په ډوبېدو ده او مړه شوه.

مل ددې لپاره چې خپله پياوړې ضربه سپکه کړي، ځان په کار کې ډوب کړ او خپل ډېر مهم، نسبتاً کوچنی اثر يې په دغه وخت کې وکاږه، "د ګټې رسولو فلسفه" (utilitarianism) چې په کال ۱۸٦۱ کې خپور شو. دغه اثر د هغه د فلسفې جوهر تشکيلوي- د ګټورتوب فلسفي بنسټ چې د هغه په نورو اثرونو کې يې نفوذ کړی دی.

د مل له خوا د بنتهام او د ګټورتوب د فلسفې لومړنۍ له حد نه ډېره ستاينه د هغه د پخوانۍ عصبي ناروغۍ له امله معتدله شوه، مل يې دې ته وهڅاوه چې د بنتهام ډېرې ايډياګانې رد کړي، په تېره د انسانانو د عقلي طبيعت په اړه د هغه ډېر ټينګار او د هغه فکر چې انساني سلوک تر محاسبې (د سپېڅلي توب محاسبې) لاندې راځي، په دغسې تحليل سره انسان مطالعه کېدلی نه شي. د لومړني لاس تجربې مل ته وښودله چې دا " د تحليل هغه خاصه ده چې احساسات له ليکنې څخه بيرون کوي." بنتهام د ټولنې جذباتي او روحي خوا هېره کړې يا په نظر کې نه وه نيولې. د هغه د ګټورتوب نظر منورې ټول - د ښېګڼې فلسفې سره زيانمنه شوې ده. دا سوړ خيرات وو. په رشتيا هم د ټولنې په اړه د بنتهام ټوله طريقه د تنور دورې (enlightenment) تش په نام علمي، په تېره په عقل باندې ټينګار زيانمنه کړې وه. هغه تاريخي انکشافات او پياوړي جذبات (passions) چې د ټولنې د هسکېدنې لامل شوې وه، له نظر څخه

غورځولي و. له بلې خوا د مل د ګټورتوب فلسفه، د رومانتیکي لیکوالو لکه ورډز ورت او کولرج او داسې هم د لرغونو یونانیانو په لیکنو سره متاثره شوې وه. هغه په دې لټه کې شو چې خپل ټولنېز درېځ د انساني سلوک له ټولو اړخونو سره معتدل کړي. ټولنه هم، د انسانانو په څېر چې په غېږ کې یې نیولې، د روحیاتي او جذباتي قوتونو تر اثر لاندې ده.

د ګټورتوب فلسفه په اساس کې پر اخلاقي بنسټ ولاړه ده او هغه دا چې خوښي ښه ده. په تېره پېړۍ کې ډېوېډ هیوم په فلسفه کې د اخلاقیاتو د داخلولو پر ضد ډېر پیاوړی استدلال کړی و. " د اخلاقیاتو په هر سیستم کې... لیکونکی د څه وخت لپاره په عادي استدلال سره مخ په وړاندې ځي او د خدای تعالي شته والی ثابتوي، یا د انساني چارو په اړه مشاهده کوي. زه هغه وخت سمله لاسه حېران شم چې د شته (is) او نشته (is not) د فرضیو پر ځای دغه فرضیه نه وینم چې له باید (might) یا نه باید (might not) سره تړاو ونه لري. دغه تعبیر غیر محسوس دی، خو هغه تر نهایي درجې د اهمیت وړ دی. هیوم چې دغه مخفي استدلال رابرسېره کړ، دغې نتیجې ته ورسېد چې " د بدي او ښېګڼي توپیر یوازې د څیزونو په اړیکو کې نغښتی دی او په عقل سره نه درک کیږي." اخلاقیات یوازې د احساساتو او نظرونو موضوع ده. هغه د فلسفي بحثونو له ډګر نه دباندې ده. هره فلسفه چې پر اخلاقیاتو بنا وي، لکه د ګټورتوب فلسفه، مجبوره ده چې خپله لار د هیوم د استدلال په خوا او شا کې و مومي.

له هماغه اول نه واضحه ده چې د مل د ګټورتوب فلسفه د استدلال ژورتیا او باریکي لري. " یوازنی ثبوت چې د ورکولو دی، دا دی چې یو څیز چې د لیدلو وي، دا وي چې خلک یې په رښتیا ویني. یوازنی ثبوت چې

آواز اوریدل کیږي دا دی چې خلک یې اوري: زموږ د تجربې نور منابع هم همدغه شان دي. په همدغه ډول یوازې د مشاهدې په درک سره ممکنه ده چې هر هغه څیز تولید شي چې مطلوب وي، یاني خلک یې په رښتیا غواړي." بیا نو دی په دغسې مهارت سره چې هیڅ پټ او مخفي نه دی وړاندې درومي او وایي چې : د یوه څیز موندنه او خوندناکه موندنه او کرکه ترینه کول او دردناک یې ګڼل هغه څیزونه دي چې سره نه بېلېدونکي دي، یا د هماغو څیزونو دوې بېلې برخې دي. ... د هر هغه څیز غوښتنه له هغه تناسب نه پرته چې ایډیا یې خوښوونکې ده، فزیکي او میتافزیکي ناشونتیا ده."

مل د هیوم له استدلال نه خبر او په دې لټه کې دی چې پرې لاس بری شي. دی په خپل استدلال کې چېرته چې یوازې د شته کلمه ده په پټه نه ګڼوي او پر ځای یې یو روحیاتي واقعیت وړاندې کوي. د لټه مناسبه ده چې د بنتهام د فلسفې د پرنسیپونو جوهر بیا راوړل شي چې مل پرې معتقد و. "طبیعت انسانان د دوو خپلواکو بادارانو تر حاکمیت لاندې کړي دي، درد او خوښي. یوازې هغو ته په مراجعې سره ده چې موږ څه وکړو. لکه هسې چې ټاکو څه به وکړو. ... د ښه او بد معیار ددوی په حکم پورې تړلی دی. دوی موږ اداره کوي، په ټول هغه څه کې چې کوو یې، په ټول هغه څه کې چې وایو، په ټول هغه څه کې چې فکر کوو. هر کوښښ چې کوو له خپل محکومیت څخه ژغورل دي، له دې نه غېر نه وي چې ... د ګټورتوب دغه پرنسیب وښودل شي او تائید شي."

د هیوم شرط یا قېد د ګټورتوب په فلسفه کې پر ځای وو. د ګټورتوب فلسفي پرنسیپ بې له شک نه مجرمه ده: " خوښ ایسېدونکی هغه دی چې غواړو و یې کړو." بل ګام یې هم مجرم دی: د نېکمرغۍ د خورا

ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي " ده. نو موږ باید "خورا ډېره نېکمرغي د خورا ډېرو د پاره ولټوو." دواړو بنتهام او مل داسې ګڼله چې دوی د هیوم سوچه فلسفي استدلال ته د سایکولوجیکي واقعیت په داخل کولو سره ځواب ورکړی دی. دا هغسې ده چې موږ سلوک کوو او دا دغسې ده چې موږ باید سلوک وکړو. سایکولوجیکي واقعیت (fact) نه یوازې اخلاقي وظیفه کیږي؛ هغه دواړه نه سره وېشل کېدونکي دي.

د ګټورتوب فلسفه زموږ د یوویشتمي پېړۍ حساسیتونو ته له مسلم ګڼلو نه پرته بل څه نه ښکاري. په واقع کې موږ د ګټې رسولو یا د ګټورتوب د فلسفې په عصر کې ژوند کوو. کوم هغه دلیلونه چې بنتهام وړاندې کړل او مل هغه تشریح او تفسیر کړل، وار په وار یې ډېر پلویان وموندل، تر څو چې خورا ډېرو ته یې خورا ډېره خوښي په برخه کړه. د شلمې پېړۍ ټول هغه کوښښونه، چې ناسم یې ثابت کړي، مصیبتناک شول. حتی په هغو نادرو وختونو کې چې ازمیښت یې وشو، عملي کوونکي یې مجبوره شول ادعا وکړي چې دوی د هغه په نامه عمل کوي. کمونیزم په تیوري کې هغه ومنله، لکه چې د کارګرو ډېر غټ پوسټرونو اعلام کړه چې نېکمرغي د ټولو لپاره راتلونکې ده. فاشیزم په تیوري کې د هغه محدود نژادي شکل ته ځان متعهد کړ چې نېکمرغي ګواکې د ټول لاندې کوونکي نژاد حق دی. دغه دواړه اعلام شوي شکلونه د مل د لیبرالي شکل تقلید ثابت شول.

د لیبرال ګټورتوب ایډیالوجي چې مل ورته انکشاف ورکړ، د هرې هغې ټولنې له لارې چې څومره آزادېدله، هغومره خپرېدله، تر دې حده چې د ګټورتوب دغه پرنسیپ اوس د لوېدیز ډول ډموکراسیو کې د اساسي قانوني حق په شان شوی دی. هیڅ سیاستمار به د هغه د نقض خیال کولی

و نه شي. حتی هغه غوښتني هم چې سختي ګاني وګالي، ټولو ته د ښه والي په عبارتونو کې تل په دغه ژبه ویلي چې د خوښۍ ښې ورځې راتلونکې دي.

خو دغه خوښي په دقیق ډول څه ته وایي؟ کوم څیز دی چې موږ خوښ کوي؟ مل له اول نه دې مسئلې ته متوجه و. هغه پوهېده چې د بنتهام په برنسیپ کې " ګټورتوب" له حد نه ډېر ټینګ نیول شوی دی. بنتهام ګټورتوب په دغه ډول تعریف کړی و: " ...په هر هغه څیز کې هغه خاصه چې په هغې سره ګټه، ښیګڼه، خوښي، ښه والی یا نېکمرغي تولید شي... یا د زیان، درد، بدي، یا د بدمرغۍ مخه ونیوله شي."دا ممکن کافي پراخ ښکاره شوی وي، خو په هغه شېبه کې چې د سپېڅلي توب محاسبه عملي شوه، هغه په حیرانوونکي ډول ساده او ابتدایي شو. دغه محاسبه ښه مجهزه وه چې کمیت په محاسبه کې ونیسي، خو څه وخت چې کېفیت (quality) په نظر کې ونیول شي، هغه له نظره غورځېدلی و او هغه دا و چې په عمل کې پېښ شول. د بنتهام ګټورتوب په زیاته اندازه یوازې د ډېر ښکته ګډ معیارله مخې د خوند یا لذت وو.

له بلې خوا د مل تعریف کمیت، کېفیت او پرمختګ په نظر کې نیسي. "... دا باید د خورا پراخ مفهوم ګټورتوب وي چې د پرمختګ کوونکي انسان په تلپاتې ګټې بنا وي." د نېکمرغۍ په دغه نظر کې د څیزونو د ښه کېدلو ایډیا پرته ده. مل دلته د خپل عصر د ډېر تازه نظر سره په لیکه کې و. د هغه د ګټورتوب د فلسفې د خپرېدلو نه بس دوه کاله دمخه د چارلس ډاروین ( Charles Darwin) د عضوي جنسونو د سرچینې (The Origin of Species) په نامه اثر خپور شوی و. د مل د پرمختګ ایډیاګانو د تکامل مفهوم په نظر کې نیولی و. خو سره له دې هم په دقیق

ډول يې د هيوم د شته/ بايد (is, ought) اعتراض سره ستونزې لري. (پرمختګ د ټولنې لپاره ښه دی، موږ بايد د پرمختګ لپاره کوښښ وکړو.) داسې ښکارېده چې هغه په عمل کې اهميت نه لاره. د انسان د پرمختګ ايډيا به د نېکمرغۍ په شان ټوله ومنله شي. زموږ د ګټورتوب عصر دا هم د اساسي قانون په شان پېژندلی دی. (حتی تش په نامه محافظه کار يا د ساتنپالني ګوندونه به دغه ضرورت حس کړي چې خپل تعريف د پرمختګ لپاره نقض کړي،)

مل ټېګار وکړ چې ټولې نېکمرغۍ سره برابر ارزښت نه لري. رښتينې نېکمرغي د " روحي بشپړتوب"(spiritual perfection) لوړه درجه په ځان کې لري. په عمل کې احتمال لري موږ هغه وخت نور هم برياليو شو چې په نانېغ ډول د نېکمرغۍ د خپلولو لپاره کار وکړو. دی د رښتين توب او ښکلا په اغېزې ټينګار کوي. دا د حساسيت ترزيق غواړي. پوهنه او داسې هم تجربه د نېکمرغۍ د ژوري درناوۍ لامل کيږي. د مل د ګټورتوب فلسفه په دغه ډول د خوندورتوب (hedonism) د ډېر ښکته معيار څخه لوړ مقام ته هسک کيږي، خو دا د خاصانو رنګ او بوی لري. حتی پخپله محتاط بنتهام هم منلې وه چې يو څوک به کله د يوې ساده لوبې په کولو سره هغومره خوښ شي چې، لکه د موسيقي کومې ژورې سمفوني ته چې يې غوږ نيولی وي. " تعصب چې له نظر نه وغورځول شي د سنجاق ټومبلو لوبه د موسيقي او شعر پوهو او هنرونو سره يو شان ارزښت لري." دلته به د هغه سپېڅلې محاسبه له روحياتي نظرونو سره همغاړې ښکاره شي.

مل له دغې مسئلې نه خبر و. له هغه څخه يې حتی ګټه پورته کړه چې د ګټورتوب په فلسفه کې د ليبرال فکر داخل کړي. د خوښۍ ارزښت په

هغه ښېګڼه کې پروت دی چې د فرد ژوند ته یې راوړي. بیا هم د ټولو له ګټې سره باید د ټولو ملاحظه په نظر کې وي. اجبار باید هیڅ نه وي. نېکمرغي به په هغه ټولنه کې په ډېره ښه توګه نفوذ کولی وشي چې هلته هر څوک پرېښوول شي چې د خپلې خوښې نېکمرغي و لټوي. یوازنی شرط باید داوي چې د نېکمرغۍ دغه فردي ډول د نورو د نېکمرغۍ له رقم یا عمومي ښه والي سره ټکر و نه کړي. د لیبرالیزم دغه ډول ترویج د "خورا ډېره نېکمرغي د خورا ډېرو " پر ضد په عمومي استدلال باندې بری مومي. دغه ډول استدلال چې په لفظي لحاظ او تر څه حده په نظر کې ونیول شي. د ګټورتوب فلسفه به د عوامو غرغړه کول بیرته جاري کړي. له هر نظر نه چې ورته وکتل شي، د ډېرو ساډیزم (sadism) [له ډېرې بېرحمۍ او ظلم څخه خوند اخستل] به د ښکار د قربانۍ فردي عذاب به په یقین سره تر سیوري لاندي کړي، خو نه د مل د نېکمرغۍ د نه مداخلې ډول.

د مل د لیبرالي تعریف نېکمرغۍ - هر یو خپل ځان ته - د نېکمرغي محاسبې او دهغه عمومي کېفیت ته یو ډول ستونزه وړاندې کوي. نېکمرغي اوس باید په دغه ډول تفسیر شي چې د هر راز محاسبې لپاره تیاره وي. له بلې خوا داسې استدلال به وشي چې د فردي نېکمرغۍ محاسبه تر دغو شرایطو لاندې نه شونې او نه ضروري ده. موږ به څنګه وکولی شو چې د خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي محاسبه کړو؟ څرګنده ده چې د سلیم عقل له تجربي معیار نه باید دلته کار واخیستل شي: یوه عمومي هوکه.

دا د مل د منطق سره جوړ راځي چې د هغه له امپریسیزم، د هغه له لیبرالیزم او د هغه له یوټه لیټیزم (د ګټور فلسفه) څخه یو اتحاد جوړ وي. په داسې

حال چې هر فرد د خپلې خوښې نېکمرغي غواړي، ضروري کېږي چې د نيکمرغۍ کشف تجربي وي. داسې هم، له پخوا نه ټاکل شوی، د ټولو د نېکمرغۍ د تضمين لپاره يا له باندې نه فکر پکي هيڅ لاره و نه لري. او د ټولو د نيکمرغي تجربي محاسبه به له شمېريز استقرا سره د پام ورته والی ولري. د تېر وتنې لپاره به ور خلاص وي، خو تکرار به يې يقيني توب نورهم پياوړی کړي. " يوازې شواهد کافي دي چې ممکنه ده هر هغه څه چې غوښتل کېږي، دا وي چې خلک يې په رښتيا غواړي." دا به دائروي ښکاره شي، خو يو ځل به داسايکولوجي وي چې د هيوم د شته/ بايد اعتراض په غوڅ ډول ځواب کړي، لکه مل چې وايي: "که موخه، هغسې چې د ګټورتوب فلسفه يې وړانديز کوي، په نظر او عمل کې د موخي په شان و نه منل شي، هيڅ څيز، به هيڅ کس، هيڅ وخت قانع کولی و نه شي چې هغه همدغسې وه."

خو آيا دا ټول تصوير دی؟ په يقين، موږ کله غوره ګڼلی شو چې له خپلې خوښې نه غېر د يوه بل څيز لاس ته راوړلو لپاره عمل وکړو. موږ د غېر غوښتنې يا د دندې په مفهوم سره عمل کولی شو، خو د "سم څيز کول" هم موږ ته خوښي راکوي - په خپلو ځانوکي د وياړ، خوښي، په شکل او په ټولنه کې زموږ د ارزښت وړ احساس او په داسې نورو شکلونو. د نېکۍ او ښېګڼې ترزيق په دې ډول فرد او ټولنې ته خوښي ښيي. بيا نو د نېکمرغۍ لا ډېر ژور مفهوم ته راځو چې موږ د " روحي بشپړتوب" په لور نور هم هڅوي.

نېکمرغۍ ته د مل د فردي غوښتنې ټينګار فرد مجاز کوي چې خپل ځان ته په ګټور او په ټوليز ډول انکشاف ورکړي. دی په دې ډول ټول کېدای شي او خپل ټول امکانات لټوي. خو دا يو څه خوښ ليدل دي. د مل د

فارمل جوړښت په يقين سره لار پرانيزي. چې دغسې وشي، خو دا چې هغه به همدغسې وکړي ، هغه بله خبره ده. زموږ سيکالوجي چې آزاده پرېښووله شي، موږ د رڼا او خوږوالي په لور تل نه رهي کوي. دا يو نسل وروسته و چې زيګموند فرويډ (Sigmund Freud) (۱۸۵٦-۱۹۳۹) شرح کړه چې عصبي ناروغي، غېر شعوري او ځان بربادوونکي محرکونه زموږ په عملونو کې غټ رول لوبوي. له بلي خوا د مل ليبراليزم، د نورو په سلوک کې د پلارواکي ډوله مداخلې مخه ونيوله، ددغې ګڼني له مخې چې په موږ کې ډېر نه پوهېږي چې کوم څيز موږ ته ښه دی. د مل په وخت کې حتی د اجتماعي ښه والي کوښښونه په معمولي ډول ددغې پلارواکۍ د پرنسيپ له مخې کېدل. بنتهام او د مل پلار په يقين سره همدغسې فکر کاوه. دوی خپله عقيده په آزادي اعلاموله، خو هغه ډېره ايډيالي او نظري مفکوره ثابته شوه چې له واقعيت سره يې ډېر تړاو نه لاره. د لومړي لاس تجربې مل خپلې پايلې ته يو ځل وهڅوه. فرد خپلې آزادي او د خپلې آزادۍ د تفسير حق لري.

بيا نو دا حيرانوونکې نه ده چې مل په دغه وخت کې خپل ډېر نفوذناک اثر، "د آزادۍ په اړه" (On Liberty) خپور کړ. ده په هغه کې شرح کړه چې دی د اختيار او جبر په فلسفي اړخ نه ګړيږي، خو د "قدرت له ماهيت نه او محدوديتونو څخه چې د ټولنې له خوا په فرد باندې په مشروع ډول چلول کيږي." مل په خپل دغه اثر کې وايي چې: "د آزادۍ او قدرت تر منځ جګړه د تاريخ د هغې برخې ډېر څرګند خصوصيتونه دي چې موږ له ډېر پخوا نه ورسره آشنا يو." دی دا هم واضح کوي چې هغه د معاصري ټولنې " څرګند خصوصيت" هم جوړوي، که څه هم په اروپا کې تر انګلستان نه ډېر دغه حال و. په انګلستان کې "زموږ د سياسي

تاريخ د خاصو حالاتو له امله ... په شخصي سلوک د مقننه يا اجرائيوي قوې له خوا د مداخلې په اړه د پام وړ حساسيت موجود و."دا" دغومره د فرد د خپلواکۍ له امله نه و، لکه د هغه د پاتې شوي سلوک له مخې چې و چې حکومت ته لا هم داسې کتل کېدل چې د خلکو د ګټو پر ضد استازي کوي." د همدغه دليل له امله و چې [اوس هم] "زياترو خلکو لا نه ده منلې چې د حکومت قدرت ددوی خپل قدرت يا د هغه نظرونه ددوی خپل نظرونه دي."

مل وايي چې يوازې يو "ډېر ساده پرنسيپ" دی چې ټولنه بايد له فرد سره په معامله کې په مطلق ډول د اجبار او کنترول په طريقه اداره وکړي. "بس يوازې يو" ساده پرنسيپ "شته او هغه داچې" يوازېنۍ موخه چې بشريت ته په فردي يا ټولنيز ډول اجازه ورکوي چې د هر غړي د عمل په آزادۍ کې مداخله وکړي، د ځان ساتنه ده." هغه " ادعا چې موږ يې په خپل ګران مخلوق لرو چې يو ځای شي، ددې لپاره چې موږ د شته والي په ډګر کې محفوظ کړي"د عدالت يوازېنۍ ادعا ده - که څه دی هم دا هم وايي چې ټولنه مجبوره ده خپلو غړو ته "د ښېګڼي اساسات" تهيه کړي. مل يوه ايډيالي ګټورتوب دولت ته د اميد سترګې نيولي وې. هغه چې له ايډيالي يوټوپيا څخه لېرې و، دننۍ ورځې له ټولنې سره لږ تر لږه ډېر ورته والی لري، کوم چې د آزادۍ نړۍ په ډېرو برخو کې ليدل کيږي (که څه هم له هغو مسئلو نه پخوا تر پخوا خبر نه و چې دغسې ټولنه نا آرامه کولی شي.)

د مل د ګټې رسولو دولت به هغه اجتماعي او اقتصادي شرطونه يقيني کړي چې فرد به د هغو له مخې په خپلو ايډياوو ژوند وکړي. فرد به د يوه انسان په توګه په دغه ډول وکولی شي خپلو ټولو استعدادونو ته انکشاف

ورکړي. دلته یوځل بیا په مترقي ځان-انکشاف باندې ټینګار دی چې هغه ارزښتونه وروزي او خپل هدفونه تعقیب کړي چې فرد قادر کوي چې خپل شخصیت بشپړ کړي، لکه چې و به وینو مل له جنسي میل سره علاقه من نه و. د ګټورتوب ټولنه د هغې د ټولو غړو په نېکمرغي سره غوړیږي.

ټولنه په دغه ډول د ګټورتوب په ایډیالونو باندې بنا ده. غړي او دولت د "اجتماعي قرارداد" له مخې نه سره یوځای کیږي چې په هغه سره افراد له خپلې آزادۍ څخه تیریږي، په داسې حال کې چې د ګټورتوب ایډیال د هغو خصوصي وده په غیږ کې نیسي. آزادي او د ګټورتوب فلسفه له اول نه سره تړلي وو. د بنتهام د آزادي مفکوره ټوله نظري نه وه. په فردي آزادۍ باندې د هغه عقیدې دی وهڅاوه چې وایې کوم هغه قانون چې د همجنسو جنسي عمل منع کوي، باید لغو شي. "ویل کېدلی شي چې د دوو کسو تر مېنځ د خپلې رضا دغه عمل چې ددوی د حفاظت یا د نورو د حفاظت سره هیڅ تړاو نه لري، ډېره مشکله ده چې درک شي." دغسې وړاندې تللي فکرونه په هغه وخت کې په پراخه اندازه نه اورېدل کېدل چې هغوی چې په کوني توب کې نیول کېدل" په دار ځړول کېدل. د همجنسو تر مېنځ د جنسي عمل په اړه د بنتهام نظر چې د لوړو پرنسیپونو خاوند و او پخپله یې د جنسي عمل تجربه نه لرله، د هغه د ګټورتوب لیبرالي کولو اثر باندې کتابونه ډکېدلی شي. هغه د ژوند تر پایه پاک لمنی و. لکه څنګه چې پخپله مل ویلي دي چې پاک لمني توب یې عمومي حکمونه ممکن د بل عمري لمنپاکي لپاره ډېر مناسب وي." څنګه چې دا ګټوره ده چې په داسې حال کې چې بشریت ناقص دی، نظرونه باید راز راز وي، بیا نو دا سمه ده چې د ژوند کولو تجربې [هم]

باید راز راز وي." " په واقع کې زموږ په عصري ګټې رسولو نړۍ کې پخپله پاک لمني د ډېر عجب " ژوند تجربې په شان ګڼل کیږي." خو ددغسې تناقضاتو په اړه د پای خبره باید د مل وي: " زموږ د نظریو د نه منلو او نقض کولو پوره آزادي، هغه یوازینی شرط دی چې د رښتین توب په اړه یې موږ پر حق کوي؛ په انساني استعدادونو سره یو موجود په بلې هیڅ طریقې د پرحق کېدلو عقلي یقیني توب تر لاسه کولی نه شي."

ګټوره ده چې په یاده شي چې د ټولنې هغو بېعدالتیو چې مل یې دغو لیکنو ته وهڅاوه، په هماغه وخت کې یې مارکس هم وهڅاوه چې د پانګې (Das Kapital) په نامه اثر وکاږي. ډېر به داسې ویني چې د وکټور یا د عصر برتانیې د غریبي او خواري، ښاري سیمو د ځېونکو شرایطو په نظر کې نیولو سره د مارکس انقلابي خپګان د مل د لوړو احساساتو څخه ډېر مناسبت لري. خو عجبه داده چې دا د مل نظرونه دي چې له موږ سره په پرله پسې ډول انعکاس کوي. هغو چې په هغه وخت کې اثرناک نه لیدل کېدل، لوېدیزه نړۍ یې دغه حال ته ورسوله او په دې یې اوس پیل کړی دی چې هغه دولتونه هم پوه کړي چې په دغو وختونو کې له مارکسستي هیبت څخه سر هسک کړی دی.

آیا د مل لیکنې په رشتیا دومره بې اغېزې دي؟ د مل د علاج نسخه په تیوري کې لږ تر لږه احتمال لاره چې د مارکس د نسخې په شان د خپل وخت د اجتماعي ناوړو مسئلو علاج وکړي. مل آزادي غوره کړه چې فردي موخو ته پرې ورسیږي. مطلب دا و چې د فرد پټ طبیعي قوت پوره آزاد شي چې موږ ټول قادر کړي چې خپل ټول استعدادونه کشف کړو. دغسې آزادي به زموږ و ټولو استعدادونو ته د تخلیق او ابتکار لامل

شي. په نتیجه کې موږ به پر دې قادر شو چې په اخلاقي، روحي او عقلاني لحاظ پرمختګ وکړو. دا به پخپل خاص ډول دغسې ښه ټولنه رامنځ ته کړي چې په هغو ناوړو پېښو غلبه وکړي چې مارکس یې پارولی و، خو د انقلاب د شدیدو ورانیو څخه پرته. داسې ښکاري چې د مل وړاندیزونه په عمل کې یو ځل بیا دغسې بې اغېزې وي چې هغه اجتماعي او اقتصادي ستونزې هوارې کړي چې وکټوریایي برتانیه یې مصیبتناکه کړې وه. بیا هم هغو په دقیق ډول ټاکلي دي چې لوېدیزې ټولنې د مل له وخت نه تراوسه د یوې نیمې پېړۍ په بهیر کې څومره پرمختګ کړی دی. ددغسې نظرونو آزادوونکي اغېزې په اول سر کې ورو ورو وې، خو د تیري نیمې پېړۍ په شاوخوا کې هغه ډېره چټکه او بریالۍ شوې ده. د سیلیکان سیمي (Silicon Valley) چې اوس په ټوله لوېدیزه نړۍ کې لیدل کیږي، د مل د نظریو د واقعي کېدلو پوره بېلګې دي. [ د سیلیکان سیمه د لوړې تکنولوجي سیمه ] او څنګه چې هغه په فردي صفتونو او تشبث تکیه لري، هغه به په یقین سره په دغو مؤقتي خنډونو غلبه وکړي.

د مل په لیبرالي ګټورتوب فلسفې یو ټینګ انتقاد پرځای دی. سلیم عقل او تجربه به موږ ته لارښود شي، خو دا هم ستونزه پیدا کوي. لکه چې مل هم ښه پوهېده، حتمي ده چې د فرد د نېکمرغۍ غوښتنه ، د نېکمرغۍ ډول ډول شکلونو ته منتهي کیږي. خو ددې مانا داده چې په منطقي لحاظ ممکنه نه ده چې په ټولنه کې د عمومي نېکمرغۍ محاسبه وکړو.

ځنګه به د عمومي نېکمرغۍ لپاره د علاج یوه نسخه ادعا وکړي چې ټولو ته نېکمرغي راوړي، په داسې حال کې چې هر يو د ځان لپاره د خپلې خوښې نېکمرغي غواړي؟ آيا د نېکمرغۍ لپاره زموږ د انفرادي ډول نسخې به په واقع کې د ټولنې د عمومو له نسخې سره یو ډول وي؟ له فلسفي اړخ نه ځواب ممکن نه دی. هيڅ منطقي دليل نه ليدل کيږي چې د نېکمرغۍ فردي مفهومونه به سره ګډ وي، خو د ګټورتوب فلسفې پلويان به استدلال وکړي چې دا هغومره له دغه ټکي سره مورد نه لري، لکه د هيوم فلسفې دليلونو چې نه لاره. د انسانانو په شان موږ د انساني طبيعت عنصر ټول په ګډه لرو او دا په کافي اندازه پراخ دی چې په يوه پراخ اتفاق باندې هوکه وکړو.

دا د " ته پوهېږې مفهوم لري" په شان استدلال دی او په عمل کې دا هغسې ده چې ډموکراټيک ليبراليزم - چې په عمق کې د ګټورتوب دی- په واقع کې ځنګه مؤثر واقع کيږي. اقتصاد پوهان يو عام شوی د " ښه حس" عامل په حساب کې نيسي چې هغه په معمولي ډول د مستهلک د لګښت اندازه په نظر کې لري. خو دا په پای کې محض د اقتصاد له نظر نه د هغه د خپلو مقاصدو او د هغه د خپل ښه والي لپاره محاسبه ده. دا به دننه په ټولنه کې د خلکو د عمومي خوښۍ علامه وي، خو هغه واقعي نېکمرغي نه حسابيږي. دا ځانله بېل واحد دی او له دې سره چې موږ څومره لګښت کوو، په هيڅ ډول يو نه دی. د دواړو تر مېنځ ضروري تړاو نشته، سره له دې هم داسې ښکاري چې دا هغه ډېر ښه دي چې موږ

يې اوس کولی شو. څنګه چې زموږ ټولنه په پياوړي ډول د اقتصادي عواملو له لارې اداره کيږي، دا به عجبه مالومه نه شي چې دغه عوامل ښيي چې موږ په څه حال کې يو. موږ په واقع کې په هغه حال کې بيرته داخل شوي يو چې د بنتهام د سپېڅلي محاسبې د ډېر ښکته ګڼو پېښو له معيار سره ورته والی لري.

مل په خپلو خپرو شوو آثارو سره نوم وايست او د درناوۍ شخصيت شو او له دې امله يې د ورځې په موضوع ګانو باندې ښه اثر وکړ. په ۱۸۶۱ کې چې د امريکې کورنۍ جګړه پيل شوه، ده د شمال په ملاتړ ټينګ آواز جګ کړ. د هغه په نظر کې په دغه جنګ کې مرکزي موضوع د مريي توب وه چې د ګټورتوب د فلسفې په تجويز کې يې هيڅ ځای نه لاره. (دی لا چې ځوان وو، د مريي توب ضد لايحې ملاتړ يې په ټينګه کړی و چې د برتانيې په پارلمان کې ديرش کاله دمخه منل شوې وه.)

په ۱۸۶۵ کې مل و هڅول شو چې پارلمان ته کانديد شي. هغه د خپل ليبرال ګوند پلويانو ته څرګنده کړه چې ځان کانديد کړي، خو يوازې په خپلو نامعمولو شرطونو سره. د انتخاباتو په وخت کې به دی هيڅ مبارزه و نه کړي او چا ته به اجازه هم ور نه کړي چې دده په پلوي د رایو ګټلو لپاره هڅې وکړي. په اول کې لا حاضر نه و چې ويناوې واوري، يا مؤکلين په کوم ډول مخاطب کړي. هغه د ليبرالي ګټورتوب د پرنسيپونو له مخې غوښتل چې په دې اړه رايه ورکونکي په خپله خوښه فيصله وکړي. دی په پای کې وهڅول شو چې له دغې غېرعادي سياسي چوپتيا

څخه تېر شي او يوه وينا وکړي. وروسته له هغه چې ده وينا وکړه، پوښتنو ته يې په ځواب ويلو پيل وکړ. حتمي ده چې له دغو پوښتنو به ځينې پاروونکي هم وي. سره له دې هم هغه په پوره صداقت سره ځوابونه ورکول. يو ځل و پوښتل شو چې " آيا تا په رښتيا ويلي وو چې د انګليس کارګري طبقې، که څه هم د نورو هيوادونو له کارګرانو نه په دې توپير لري چې په دروغ ويلو شرمېږي بياهم دوی په عمومي ډول دروغجن دي." هغه سم له لاسه کړه چې " هو، ما ويلي وو." د حاضرينو د کارګري طبقې غړو، د درناوي په ډول چکچکي وکړې او مل په حقه غوره شو. مل، د پارلمان د غړي په توګه، د يو شمېر موضوع ګانو په اړه ويناوي وکړې. ښځو ته د رايو ورکولو د حق، په حکومت کې د فساد د شته والي موضوع ګانو په ګډون، د اقتصادي موضوع ګانو په اړه يې تخصصي سپارښتني وړاندې کړې او د ۱۸٦۷ اصلاحاتو د لايحې په پاس کولو کې يې خپل وزن علاوه کړ. ( په پارلمان کې ددغه دوهم اصلاح په منل کېدلو سره د رايو ورکولو ساحه پراخه شوه او د رايي ورکولو شمېر دوه واره ډېره شوه.)

مل له دغه درانده کار سره سره د انتخاباتو په بله دوره کې خپله څوکۍ د سميت په نامه د يوه جورنالست په وړاندې له لاسه ورکړه. دوه شپېته کلن مل د فرانسې اوګنن سيمي ته لاړ چې هلته د خپلې مينې، هيريټ له قبر سره نژدې ژوند وکړي. د هغې لور، هيلن، [ دده برګتې] د هغه پوره خدمت لپاره هم لاړه. (بياهم بې له دې چې تر منځ يې نامناسبي اړيکي

وي) د مل مړې شوې مېرمنې ته د هغه وفا د ویکټوریایي دورې له معمولي احساساتو نه لوړه وه. د هغې داعیې لپاره چې دواړه په ټینګه ورته ژمن وه، مل " د ښځو د محکومیت" په نامه یو اثر وکښه. ددغې موضوع په اړه چې هغه له لومړنیو لیکنو څخه ده، ډېر هغه منطقي پایلو ته رسوي چې هغه په خپل پخواني اثر " د آزادۍ په اړه" کې شرح کړي دي. پر دې برسیره چې هغه د هغه د فلسفې یوه برخه ده، سیکالوجیکي بصیرتونه هم لري. " تر څو چې یو نظر په احساساتو کې پیاوړې ریښه لري، په خپل ټینګښت کې نظر دې ته چې د خپل ضد په وړاندي، وبایلي، ډېر وزن ورته ورکوي. ځکه که هغه د استدلال په نتیجه کې ومنل شي. ددغه استدلال رد ممکن ددغه نظر ثبات ولړزوی؛ خو که هغه یوازې په احساس تکیه لري، په استدلالي بحث کې ډېر زیانویني، څومره چې پلویان یې لا ډېر هڅول کیږي چې ددوی احساس به دغسې ژور میدان لري چې دلیلونه ورته سمیږي." دغسې بصیرت د مل د خاص استدلال د ځای او وخت نه دباندې تطبیق مومي.

د برابرۍ لپاره د ګټورتوب فلسفې استدلال مسلم او د مل په امپیریسیزم او داسې هم د هغه په لیبرالیزم سره تائیدیږي، خو د عصري ښځې لپاره د هغه د شخصي تجربې ټول استدلال دغسې قوت نه لري. مل له هرڅه سره د خپلو ډېرو نادرو اړیکو په نتیجه کې ځان مجبور ولید چې وایي ښځې د جنس یا سیکس " حیواني وظیفه" نه غواړي؛ نارینه باید کوښښ و نه کړي چې دغه کرکجن عادت په " ضعیف جنس" باندې عملي

کړي.

مل د خپل ژوند څو کلونه د خپل ژوند په سوانح (autobiography) تېر کړل. ددغه اثر صراحت او ځان ښودنه د هغه د پلار په اړه په خاص ډول د هغه په احساساتو کې څرګند دی. دا د یوه هغو عالي لیکنو څخه ده چې د یوه "مجبور شوي نابغه" په شان روزل څنګه وي او داسې هم د هغه اغیزي، په هغه حساسیت سره چې ورسره تعلق لري [ څنګه وي.] هغه "په اساس کې د پاربدونکي" پلار د ویکټوریایي دورې د یوې رښتیني بلا تصویر وړاندې کوي. ددغه اثر په لومړنۍ مسوده کې مل وایي چې "پلار او مور یې تر یوه چت لاندي هغومره لېرې ژوند کاوه، لکه شمالي قطب له جنوبي قطب نه لېرې و." په دې اړه ډېر څه لیکل شوي چې د هغه د مور نوم هرېیټ و چې د مینې یې هم و. او د نومونو دغه اشتراک ډېر ساهپوهان وهڅول چې ډول ډول تبصرې وکړي او ناقصې نتیجې ترېنه وباسي. کوم څیز چې څرګند دی دادی چې مل حتی د ماشومتیا په وخت کې لا درک کړی و چې " زما روزنه، د مینې روزنه نه بلکې د وېرې وه." دا چې له دغه حال څخه ژوندی ووت او له یو څو اغیزو سره دغسې ژوندی ووت چې دغسې یو لیبرال او انسان پال انسان شي، له معجزې څخه لږ څه کم دی. حتی هغوی چې د مل له جنسي اغیزو سره موافق نه دي، ممکن د هغه له نظریې سره خواخوږي ولري. " د انسان په ژوند کې تر هغو چې د سیکس حیواني ژوند په نامعقول ډول په لوړ تناسب ځای ولري، لکه چې لري یې، د انسان په ژوند کې د غټ

اصلاح هيله کېدلی نه شي." خو افسوس چې فرويډ راښکاره کېدونکی و او سره له دې هم ژوند اصلاح شو.

مل په ۱۸۷۳ کې د شپږشپېتو کلونو په منګ په اويګنن کې وفات شو، خو د هغه ليبراليزم دی د وکټوريا د دورې بورژواګانو ته منلی شخص نه وګرځولی. په ورته ډول د هغه د فرديت پر بنسټ نظريې د چپيانو له انقلابي نظرونو سره جوړې نه وې، بياهم د هغه مړينه په ټوله برتانيه کې او له هغه خځه دباندې هم، چېرته چې ريا زړه سواندي وچه کړې نه وه او چېرته چې په آزادي باندې عقيده له ځاني منفعت او ځاني نظر نه پراخه شوې وه، په ژور غم سره بدرګه شو.

# پایلیک

وروستیو د مل په اړه ډېرې ترخې لیکنې کړي دي. فیلسوفان هڅه کوي چې د هغه د ګټورتوب فلسفه غېرابتکاري وښيي او پخپله دی د بنتهام پلوی وګڼي، خو دا تر بې انصافۍ هم ډېر دی. د مل لیبرالي انکشاف او د ګټورتوب فلسفې پراخ پلوي توب هم په فلسفه او هم په اجتماعي ژوند کې د بنتهام فلسفي ایډیاګاني په پوره منسجم قوت واړولې. داسې هم د مل لیبرالي او سیاسي ایډیاګانو هم زیانونه وګالل، په زیاته اندازه له دې امله چې هغه ډېر بریالي ووتل. کوم هغه څه چې مل، د عام ذهنیت پرخلاف، غوښتل اوس موږ ټولو ته څرګند ښکاري. موږ په لیبرالي او د ګټورتوب په عصر کې ژوند کوو. د کانګرس لایحې، د ډېرو ډولونو اغیزناکي پرېکړې، حتی زموږ شخصي اخلاقیات- ټول د ګټورتوب تر ازموینې لاندې شوي دي. موږ ټول چې په شعوري یا غیرشعوري ډول فیصلې کوو او نظرونه وړاندې کوو، د ګټورتوب شعار په ذهن کې لرو. " د خورا ډېرو، خورا ډېره ګټه" دومره پیاوړې ده چې په لویدیزو آزادو دموکراسي ګانو کې زموږ د ژوند عصري یو نزدې نه ویل کېدونکی بنسټیز پرنسیپ دی.

سره له دې هم په دقیق ډول دا د مل لیبرالزم دی چې نن ورځ لانجمن دی. دا ډېره ښه ده چې سړی په لیبرال عصر کې لیبرال وي، خو د ټولنې په اړه څه وشي. مل تیار و چې ددغه اغزن بوټي درک وکړي. هغه حتی د نشه توب په اړه هم، د نه پلار واک زور باندې، په خپل لیبرالزم ټینګ ودرېد. ټولنه حق نه لري چې خپل غړي تر فشار لاندي ونیسي چې د

"عقلي سلوک عادي معیار" له مخې عمل وکړي. هغه استدلال وکړ چې ټولنه په ماشومتیا او د نوې ځوانۍ په اولو کې په فرد باندې د "مطلق قدرت" حق لري او که هغه نشي کولای په دغه وخت کې په هغه کې عقلي چلند تزریق کړي، ملامتیا به پخپله د ټولنې وي چې غړي یې په غیر عقلي ډول چلند کوي.

ددغسې لیبرالزم په وړاندې دوې نیوکې پر ځای دي. لومړی دا چې زموږ ټولنه له الکولي نشه توب نه د مخدراتو (drugs) له نشه توب نه ډېر رنځ وړي. د ډېرگ سخت معتادان له بربادوونکي "غیرعقلي توب" څخه ډېر پیاوړی ښکاري. له بلي خوا مل ممکن استدلال وکړي او په یوه عدالت سره هم چې د ویکټوریا د وخت په ښاري ډېرو وغریبو برخو کې په برابره اندازه ورانی وو. بله داچې عصري ټولنه په تنکیو ځوانانو باندې " مطلق واک" نه لري. ( او دا تر زیاتي اندازې د پوهنې، روزنې او داسې نورو په اړه د لیبرالزم نتیجه ده.) که موږ وغواړو چې ځانونه په دغسې حال کې وینو چې د لیبرالزم ځینې اړخونه ترک کړو، هغه به بیا هم زموږ تفکر ته لارښوونه کوي. موږ چې په هر هغه څه هوکړه وکړو چې ددغسې بې اثره لیبرالزم پر ځای یې غوره کړو، هغه به د ګټورتوب د پرنسیپونو له مخې وي. مل به تل زموږ رایه و نه لري، خو د پای خبره بیاهم د هغه ده.

پای

# د مل له ليکنو څخه

د خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي د اخلاق او قوانينو اساس دی.

جرمي بنتهام

طبيعت انسان د دوو خپلواکو بادارانو، درد او خوښۍ، تر حاکميت لاندي کړی دی. دا يوازې ددوی کار دی چې وايي، څه بايد وکړو، لکه داچې وټاکي چې څه به وکړو. له يوې خوا د حق او بدي معيار او له بلي خوا د علتونو او نتائجو لړۍ ددوی په حکم پورې تړلي دي. دوی په ټول هغه څه چې موږ يې کوو، په ټول هغه څه چې وايو، په ټول هغه څه چې فکر کوو موږ اداره کوي. موږ چې هر کوښښ وکړو، له دغه محکوميت څخه ځان و ژغورو، ددوی لپاره به خدمت وکړي چې ويې ښيي او تائيد يې کړي. يو څوک به ممکن په خبرو سره ادعا وکړي چې د هغو له حاکميت نه به آزاد شي، خو په واقع کې هغه به تر پايه پورې د هغو تابع پاتې وي. ... هغه سيسټمونه چې کوښښ کوي تر پوښتني لاندي يې ونيسي، د مفهوم پر ځای له غږونو، د عقل پر ځای له بوالهوسۍ او د رڼا پر ځای له تيارې سره معامله کوي.

جرمي بنتهام

د يوه څيز غوښتل او خوښوونکی ميندل، له هغه سره مخالفت کول او

درد ناک یې فکر کول، هغه څیزونه دي چې ګرد سره جلا دي، یا د هغو څیزونو دوې برخي دي. ... د هر هغه څیز غوښتل، له هغه تناسب نه پرته چې ایډیایې خوښي راولي، یوه فزیکي او میتافزیکي ناشونتیا ده.
جان ستوارټ مل، د ګټورتوب فلسفه

معترضان ممکن شک ولري چې بشریت به چې که ورته و ښودله شي چې خوښي د ژوند موخه ده، ممکن په خپلې دغې معتدلي برخي قانع شي. خو د بشریت ډېره برخه په لږ سره قانع شوې ده. داسې ښکاري چې د قانع ژوند قیمت اجزا دوه دي چې هر یو یې زموږ د مقصد لپاره زیاتره کافي دي: آرامتیا او هیجان.
جان ستیوارټ مل، د ګټورتوب فلسفه

ښه داده چې ناراض انسان اوسې، نه راضي خوګ؛ ښه دا ده چې ناراض سقراط اوسې، نه راضي احمق. او که احمق او خوګ سره مختلف نظر لري، هغه له دې امله دی چې هر یو یې د موضوع خپله خوا ویني.
جان ستوارټ مل، د ګټورتوب فلسفه

ددغه اثر مطلب د یوه ډېر ساده پرنسیپ بیان دی چې مستحق کوي یې له فرد سره د اجبار او کنټرول په ډول د ټولنې چاري تنظیم کړي، له فرد سره د اجبار او کنټرول په طریقه چې وسائل به یې د قانوني مجازاتو په بڼه فزیکي قوت وي، یا د عامه ذهنیت اخلاقي فشار. هغه پرنسیپ دا دی چې یوازنی مقصد چې بشریت په فردي یا ټولنیز ډول مجاز ګرزوي چې د هر غړي د عمل په آزادي کې مداخله وکړي، ځان - ساتنه ده. یوازنی

مقصد چې قدرت د یوې متمدني ټولنې په غړي باندې، د هغه د ارادې پر خلاف استعمال شي، دا دی چې نورو ته د زیان مخنیوی وشي. د هغه خپل ښه والی فزیکي وي یا اخلاقي کافي جواز نه دی. هغه پر حق مجبور کېدلی نه شي چې عمل یا تحمل وکړي، ددې لپاره چې هغه به هغه ته د نورو په نظر ښه وي چې و یې کړي چې نور یې هم خوښ کړي، ددې لپاره چې هغه به د هغه لپاره ښه یا برحق وي چې همدغسې وکړي.
جان ستوارټ مل، د آزادۍ په اړه

فرد پر خپل ځان، پر خپل جسم او ذهن د مطلق حاکمیت خاوند دی.
جان ستوارټ مل، د آزادۍ په اړه

که ټول بشریت منفي یو په یوه نظر وي او یوازې یو کس مخالف نظر ولري، بشریت به ددې حق و نه لري چې هغه چوپ کړي، لکه هسې چې دی به که په واک شي، حق و نه لري چې بشریت چوپ کړي.
جان ستوارټ مل، د آزادۍ په اړه

تر هغو چې یو اثر د محدودو ذهنیتونو محصول وي، هغوی به له هغه نه محدودې نتیجې راوباسي.
جان ستوارټ مل، اګوسټ کونټ او مثبتیت

د انسانانو رښتینې ښېګڼه په هغه آماده توب کې ده چې سره د برابرو په شان سلوک وکړي؛ چې هیڅ څیز د ځان لپاره و نه غواړي، خو هغه چې په آزاد ډول هر بل یوه ته غواړي چې د هر ډول حاکمیت غوښتنه د یوه

استثنايي ضرورت له مخې کوي او هغه هم په ټولو حالاتو کې د مؤقت وخت لپاره.

جان سټوارټ مل، د ښځو محکومیت

ځان وپوښته چې که ته نېکمرغه یې او ته به دغسې کېدلی و نه شې.

جان سټوارټ مل، اتوبیوګرافي

# د مهمو فلسفي نېټو کرونولوجي

| | |
|---|---|
| ٦مه پېړۍ، مخزېږده (م.ز.) | د ملیټس له تهالیس سره د لوېدیزې فلسفې پیل |
| د ٦مې پېړۍ پای م.ز. اټکل | د فیساغورس مړینه |
| ۳۹۹ م.ز. | په اتن کې د سقراط په مرگ محکومیت |
| ۳۸۷ م.ز. اټکل | افلاتون په اتن کې اکاډمي پرانیستله. لومړی پوهنتون |
| ۳۳۵ م.ز. | ارسطو په اتن کې لیسه پرانیستله. د اکاډمۍ په رقابت |
| ٤۲٤ زېږده (ز) | امپراتور کان ستنتان د روم امپراتوري بیزانس ته نقل کړه. سان اگوستین خپل اعترافات (Confessions) لیکي. |
| ٤۰۰ ز | فلسفه په عیسوي الهیاتو کې جذبیږي. |
| ٤۱۰ز | د وزي گوتانو له خوا د روم چورېدل، د توري دورې ور پرانیزي. |

| | |
|---|---|
| ۵۲۹ ز | په اتن کې د امپراتور جستينين په حکم د اکاډمۍ تړل کېدل، د يوناني فکر د پای نخښه کيږي. |
| اټکل د ديارلسمې پېړۍ مينځ | تهماس اکوينوس په ارسطو تفسيرونه ليکي. د سکولاستسيزم عصر. |
| ۱۴۵۳ | د عثماني ترکانو په لاس د بيزانس سقوط، د بيزانس د امپراتورۍ پای |
| ۱۴۹۲ | کولمبس امريکا ته رسيږي. په فلورانس کې رنسانس او د يوناني علومو په اړه د علاقه منۍ احيا. |
| ۱۵۴۳ | کوپرنيک د آسماني کرو د انقلاب (On the Revolution of the Celestial Orbs) په اړه په خپرولو سره په رياضي سره ثابتوي چې مځکه د لمر په مدار ګرځي. |
| ۱۶۳۳ | ګاليله د عيسوي کليسا له خوا مجبوريږي چې له دغه نظر نه توبه وکاږي چې لمر د کايناتو مرکز دی. |
| ۱۶۴۱ | دکارت خپل تفکرات خپروي. د عصري فلسفې پيل. |
| ۱۶۷۷ | د سپنوزا مړينه شونې کوي چې اخلاقيات يې چاپ شي. |
| ۱۶۸۷ | نيوټن د پرنسيپا (Principa) په خپرولو سره د جاذبې مفکوره معرفي کوي. |
| ۱۶۸۹ | جان لاک د انسان د پوهاوی په اړه اثر خپروي. د امپريسيزم شروع. |

| | |
|---|---|
| ۱۷۱۰ | برکلي د انساني پوهې پرنسیپونو په خپرولو سره امپریسیزم نهایي حد ته رسوي. |
| ۱۷۱٦ | د لاینبنیز مړینه |
| ۱۷۳۹-۱۷٤۰ | هیوم د انسان د طبیعت په اړه اثر خپروي او امپیریسیزم خپلو منطقي حدونو ته رسوي. |
| ۱۷۸۱ | کانت چې په هیوم سره له خپل " جزمي خوب" څخه ویښ کېږي، د خالص عقل انتقادي لیکنه خپروي. |
| ۱۸۰۷ | هیګل د ذهن فنامینا لوجي خپروي. د جرمن د میتافزیک لوړ ټکي. [فنامنالوجي، د حوادثو علمي شرح ] |
| ۱۸۱۸ | شوپنهاور، نړۍ د آزادي او استازیتوب په خپرولو سره، هندۍ فلسفه د جرمن په متافزیک کې مروج کړه. |
| ۱۸۸۹ | نیچه په تورین کې لیوني کیږي. |
| ۱۹۲۱ | وټګن شټاین د (Tractatus Logico-Philosophicus) په خپرولو سره ادعا کوي چې د فلسفي مسائلو لپاره یې د حل آخیري ټکی موندلی دی. |
| د ۱۹۲۰ لسیزه | د ویانا کړۍ د منطقي مثبتیت تفسیر کوي. |
| ۱۹۲۷ | هایډګر د شته والي او نشته والي په خپرولو سره د تحلیلي او اروپایي فلسفې تر مېنځ درز اچوي. |

| | |
|---|---|
| ۱۹۴۳ | سارتر د شته والي او نه شته والي په خپرولو سره د هایډګر فکر او پارونکی شته والی دمخه بیایي |
| ۱۹۵۳ | د وټګن شټاین له مرګ نه وروسته د فلسفي څېړني په خپریدلو سره د ژبني تحلیل لوړ عصر کیږي. |

# د مل د ژوند او عصر نېټې

۱۸۰۶ جان سټوارټ مل د مې په شلمه په لندن کې وزېږېد. هیګل د روح فنامنالوجي خپروي.

۱۸۰۷ ورډز ورت په دوو ټوکونو کې اشعار خپروي.

۱۸۱۷ له وخت نه دمخه رسېدلی مل، د خپل پلار جیمز مل په هدایت، د روم د تاریخ په لیکلو پیل کوي.

۱۸۲٤ له ختیځ هند کمپنۍ سره مامور کیږي.

۱۸۲٦ په عصبي مریضي اخته کیږي.

۱۸۳۰ په میرمن هرې یټ مین کیږي او د هغې د مېړه، جان ټېلر، په رضایت سره افلاتوني اړیکو ته دوام ورکوي.

۱۸۳۲ د اصلاح لومړۍ لایحه منله کیږي.

۱۸٤۳ مل د منطق سیسټم خپروي.

۱۸٤۸ په ټوله اروپا کې انقلاب کیږي. مارکس او انګلز د کمونسټ مانیفسټو خپروي. مل د سیاسي اقتصاد سیسټم خپروي.

۱۸٤۹ د هرې یټ مېړه، جان ټېلر، مري.

۱۸٥۱ مل له هرې یټ سره واده کوي.

۱۸٥۸ د ختیځ هند کمپنۍ منحله کیږي. مل تقاعد کوي او له هرې یټ سره فرانسې ته ځي. هرې یټ د فرانسې په جنوب کې په اوګنن کې له نري رنځ نه مري.

۱۸٥۹ ډارون د جنسي انواع سرچینه خپروي. مل د آزادۍ په اړه اثر خپروي.

۱۸۵۱[ ۱۸۶۱ ] د امریکې کورنۍ جګړه پیل کیږي. مل د شمال په پلوي فعالیت کوي. د ګټورتوب فلسفه خپروي.


۱۸۶۵ د پارلمان د غړي په توګه غوره کیږي.

۱۸۶۷ د پارلمان له خوا د اصلاح دوهمه لایحه منله کیږي.

۱۸۶۸ مل په عمومي انتخاباتو کې ماته کوي او په پارلمان کې خپل غړیتوب بایلي. بیا اوګنن ته ځي، چېرته چې د هغه برګتۍ، هیلن ټېلر، د هغه خدمت په غاړه اخلي.

۱۸۶۹ مل 'د ښځو محکومیت' په نامه اثر خپروي. د سویس کانال پرانیستل کېدل.

۱۸۷۳ مل په اوګنن کې د شپږشپېتو په منګ مري.



جان سټوارټ مل (1806 – 1873)



**جيمز مل (1807- 1858) د جان سټوارټ مل پلار**



**هري یت ټیلر مل (1773 – 1836) د جان سټوارټ ښځه**

# د پوهاند محمد حسن کاکړ د آثارو لست

**انگریزي:**

- د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیک تاریخ ۱۸۶۳ -۱۹۰۱، بریل پبلیشنگ هاوز، هالند، ۲۰۰٦.
- افغانستان، د شوروي یرغل او د افغانانو غبرگون، ۱۹۷۹-۸۲، د کلفورنیا پوهنتون ، ۱۹۹۵.
- په افغانستان کې دولت او ټولنه، د امیر عبدالرحمن خان سلطنت، ۱۸۸۰-۱۹۰۱، په اسټین کې د تکزاس پوهنتون، ۱۹۷۹.
- د افغانستان په کورنۍ سیاست کې د پرمختگونو یوه څیړنه ، ۱۸۸۰-۹٦، خصوصي خپرونه، لاهور، پاکستان، ۱۹۷۱.

**دری:**

- (افغانستان په وروستې پنځو پیړیو کې) کتاب ته کتنه، د امان کتاب خپرولو موسسه، ۱۹۹۰.
- د افغان _ انگلیس دوهمه جگړه، د افغانستان ملي ا سلامي محاذ، پېښور، ۱۹۸۹.
- افغان، افغانستان او د افغانانو د لنډو هڅو په ترڅ کي په هند، فارس او افغانستان کي د حکومت د رامنځته کولو لنډیز، د کابل پوهنتون مطبعه، ۱۹۷۸.

**پښتو:**


- د افغان - شوروي جګړه، د کاکړ تاریخ بنسټ، ۲۰۱۵.
- پښـــتون، افغان، افغانســـتان، د افغانســـتان د کلتوري ودې ټولنه، کابل، ۲۰۱۱.
- زما غوره لیکنې، د افغانســتان د کلتوري ودې ټولنه، کابل، ۲۰۱۰.
- د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۲۰۱۰.
- د سرطان کودتا  د افغانســـتان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمنې، ۲۰۰۹.
- د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه، د افغانســـتان د کلتوري ودې ټولنه، جرمنې، ۲۰۰۵.
- وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامې بنسټ پالنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۲۰۰۴.
- رڼا او دفاع یا د افغانستان د نفوسو، تاریخ او روانو پیښو په باب لیکنې ، د ســـاپي د پښـــتو څیړنې او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۹۹۹.
- د افغانستان په باب د ژنیو جوړه، وفا خپرندویه موسسه، پیښور، ۱۹۸۸.


**ژباړې:**


- جان ستوارټ مل په نوې دقیقو کې، د پال ستراټرن لیکنه، د کاکړ تاریخ بنسټ، ۲۰۱٦.

- د انسانتوب په اړه د اخلاقپوهنې پرنسیپونه، اندروس ورګا لیکنه، د کاکړ تاریخ بنسټ، ۲۰۱۵.
- جنګ او زمونږ نړۍ، د جان کیګن لیکنه، او د مایکل هاورډ دوې لنډې لیکنې،د کاکړ تاریخ بنسټ، ۲۰۱۵.
- د کابل سـلطنت بیان، د مونټ سـټوارټ الفنسـټن لیکنه ،لومړی او دویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۲.
- د ښـه سـړیتوب په هکله د هومر پی بالابانیس لیکنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه،جرمنی، ۲۰۱۰.
- خـاطرې: د یوی دوری لنـد تـاریخ (۱۸۸۱-۱۸۶۹) د محمود طرزي لیکنه، د افغانسـتان د کلتوري ودې ټولنه، جرمنې۲۰۰۷.
- د پوهنې فلسفې بنسټونه, د جارج نیلر لیکنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ،جرمنې، ۲۰۰۲.
- د روسیې سره د افغانستان جګړه، ۱۹۸۷.
- دیموکراسـی په اوسـنی نړی کی، سـی بی میک فارسـن، کابل پوهنتون، ۱۹۷۱.
- تاریخ څه ته وایي؟ ای ایچ کار، کابل پوهنتون،۱۹۷۰ .
- د ادبیاتو په هکله لیکنه، د ایم ګورکی لیکنه، ۱۹۶۱.
- عصرې نړۍ، د ډبلیو میک نیل لیکنه.
- د قرون وسطی اروپا، د ایس پیسنټر لیکنه.
- د سیاست په اړه برتانوي تګلاره، د ایم سټیوارټ لیکنه.

نېکمرغي به په هغه ټولنه کې ښه نفوذ وکړائ شي چېرته چې ټول وګړي پرېښودل شي چې د خپلې خوښې نېکمرغي ولټوي. خو يوازنی شرط بايد دا وي چې د خوښيو دغه فردي ډول د نورو د نېکمرغيو له رقم او يا هم ټولنيز ښه والي سره ټکر ونکړي.

مل په دې ډول په عملي ژوند کې په فردي آزادۍ ټينګ ودرېد. دی معتقد وو چې فرد په خپل ځان، بدن او په خپل فکر د مطلق حاکميت خاوند دی.

**د کاکړ تاريخ بنسټ**

دنويوتاريخي اثارو ليکل، ژباړل او خپرول، دپخوانيو اثارو تدقيق او بيا خپراوی، دتاريخ او مرستندويو پوهنو څېړنو ته لار هوارول، د تاريخي سيمينارونو، ورکشاپونو، کنفرانسونو او سمپوزيمونو جوړول او له اکاډميکو پوهانو سره د دوی تاريخي آثارو ژباړه، او د ليکنو د خپرولو مرکز